# اندلس

## یا ننني هسپانیه او پرتگال له فتحې تر سقوطه

لیکوال: ډاکتر راغب سرجاني

ژباړن: عصمت الله (زاهدمل)




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

م ا عزیز الرحمن حبیبي

# اندلس

یانې هسپانیا او پرتګال، له فتحې تر سقوطه!

لیکوال: ډاکټر راغب سرجاني
ژباړن: عصمت الله "زاهدمل"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

د ژباړن خبرې ۳
یو څو خبرې ۵
له غرناطې څخه دې د سرپیو په شان دفاع ونه کړه ااوس ۸
لومړی درس ۱۲
مونږ ولې د اندلس تاریخ مطالعه کوو؟ ۱۲
ولې دعوت د لښکر سره تړلی دی؟ ۲۲
د اندلس د فتحې زمانه ۲۶
زمونږ او د هغوی جنګونه ۲۷
د مسلمان مسؤلیت ۲۹
اسلام ته د ټولو اړتیا: ۳۱
د اندلس پېژندنه ۳۲
اندلس په کومه زمانه کې فتحه شو؟ ۳۴
د اندلس له فتحې څخه مخکې د اروپا حالت ۳۶
دویم درس ۳۸
د اندلس د فتحې دوره: ۳۸
مسلمانان، د افریقا شمال او د اندلس فتحه: ۳۸
موسی بن نصیر (رحمه الله) ۳۹
له مشکلاتو سره مبارزه: ۴۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رباط دره او د رمضان مبارکه میاشت: ۵۳
طارق بن زیاد (رحمه الله) او د کنبتیو د سوځولو موضوع ۵۴
په اسلام کې جزیه: ۵۸
دریيم درس ۶۰
صخره: ۶۹
د فتحې د دورې پای (۹۵ هـ =۷۱۴ م): ۶۹
څلورم درس ۸۲
پنځم درس ۱۰۶
یو خبر نیز نظر: ۱۲۵
شپږم درس ۱۲۹
اووم درس ۱۵۰
اتم درس ۱۷۶
نهم درس ۱۹۷
د پنجشنبې په شپه ابن رمیله خوب کوري: ۲۱۸
لسم درس ۲۲۵
یوولسم درس ۲۴۴
دولسم درس ۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژباړن خبرې

الحمد لله رب العالمين وصلاة والسلام على اشرف الانبياء والمرسلين سيدنا ومولانا محمد و على اله و اصحابه اجمين، اما بعد:

ډېر خوشحاله يم، چې الله تعالی راته د اسلامي تاريخ له بابونو څخه، د يوې برخې د ژباړې توفيق راکړ، يعني د اسلامي او تاريخي اندلس، له فتحې، تر سقوطه پورې ليکل شوی کتاب مې وژباړه.

د اندلس اسلامي تاريخ، ډېر عجيبه تاريخ دی، ځکه په دې تاريخ کې کله مسلمانان ډېرو لوړو پوړيو ته رسېدلي دي او کله بيا داسې يو حالت ته رسېدلي، چې نصاراوو ته به يې جزيه ورکوله.

په کوم وخت کې به چې د اندلس مسلمانان په خپلو منځونو کې سره يو شول، اتفاق او اتحاد به يې پيدا کړ او د اخرت مينه به يې د دنيا په مينه غالبه شوه، نو بيا به يې دومره رعب او پرتم پيدا کړ، چې د نصاراوو رياستونو به مسلمانانو ته جزيه ورکوله، لکه د عبدالرحمن الداخل(رحمه الله) عبدالرحمن الناصر (رحمه الله) او ځينو نورو په زمانه کې د اندلس مسلمانانو له نصاراوو څخه جزيه اخيستله، خو کله به داسې حالت هم راغی، چې مسلمانان به په خپلو منځونو کې بې اتفاقه شول او د يو بل سره به يې جنګونه شروع کړل، نو بيا به داسې حالت پرې راغی چې الله تعالی (جل جلاله) به نصارا پرې مسلط کړل او له دوی څخه به يې جزيه اخيستله او حتی داسې وخت هم راغی، چې کله په اندلس کې د مسلمانانو تر منځ بې اتفاقي او د الله تعالی (جل جلاله) د قوانينو ماتول اخري حد ته ورسېدل، نو الله تعالی (جل جلاله) له داسې سقوط او تباهۍ سره مخ کړل، د مسلمانانو د بې اتفاقۍ او بې پراويۍ پايله داشوه، چې اندلس يې له لاسه ووت او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندلس کې د مسلمانانو نوم او نښان هم پاتې نه شو ، هغه اندلس ، چې نورې اروپا ته ترې علم خپور شو ، يو وخت پکې د اسلامي دين څراغونه ځلېدل، خو نن پکې هېڅ مسلمان هم نشته.

**په اندلس کې د مسلمانانو د سقوط ستر او مهم لاملونه:**

۱. قومي او توکميز تعصبات !

۲. له دنيا او مال سره د مسلمانانو بې کچې مينه !

۳. د مسلمانانو په مقابل کې د جنګ لپاره له نصاراوو څخه د مرستې غوښتنه، تر دې که د دوو ورونو تر منځ به په خپلو کې د واک پر سر لانجه پيدا شوه، نو بل به له نصاراوو څخه مرسته غوښتله

نور عوامل هم شته، خو عمده عوامل يې همدا دي، چې پورته ذکر شول او همدا عوامل په اندلس کې د مسلمانانو د سقوط باعث وګرځېد.

په هر صورت، په اندلس کې خو مسلمانانو سقوط وکړ، خو د نورې نړۍ مسلمانان بايد د هغوی له سقوط او هلاکت څخه عبرت واخلي او کوم عوامل چې د هغوی د سقوط سبب شوي دي، هغه بايد تکرار نه کړي، ځکه د تاريخ له مطالعه کولو او لوستلو څخه تر ټولو مهم هدف همدا دی، چې کومې غلطۍ زمونږ پخوانيو مشرانو تر سره کړې دي، هغه بايد مونږ تکرار نه کړو او تر خپل توان او قدرت پورې د هغو غلطيو مخنيوی وکړو، ځکه چې همدا د امت د اصلاح لاره ده او د امت اخرني به په هغه څه اصلاح کېږي، په کوم څه چې د هغوی اولني اصلاح شوي دي

په پای کې له ټولو درنو لوستونکو څخه هيله کوم چې کومې غلطۍ د ژباړې په برخه کې راڅخه شوې دي، هغه راته وبخښي، ځکه چې دا زما لومړنی ژباړه ده او خامخا به ستونزې لري، خو هيله لرم، چې درانه لوستونکي به هغو غلطيو ته د ېر پام نه کوي

په احترام

عصمت الله ( زاهد مل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یو څو خبرې

تاریخ د تیرو ولسونو د عروج او زوال، پرمختګ او په شاتګ... د ننبو، لاملونو، کړنو او نتایجو انځور دی چې قرآنکریم هم مونږ ته په ډیرو ځایونو کې لارښوونه کوي او وایي چې تاسو د پخوانیو قومونو انجام ته وګورئ هغه قومونه چې له تاریخ څخه پند نه اخلي او خپل حال او مستقبل له ماضي سره نه تړي او له ماضي څخه ناخبره وي، خپل ټول ژوند په ناکامو تجربو کې ضایع کوي

یو وخت یو متدین ګروپ مسلمانان د طارق بن زیاد (رحمه الله) په مشرۍ په دې موخه چې بشریت ته د کفر، شرک، فقر، ناروغۍ، بې نظمۍ، نا امنۍ او جهالت څخه نجات ورکړي او د اسلام مبارک دین ته یې راوبولي چې د امن، سلامتیا او سوکالۍ دین دی... اندلس ته داخل شول او دغه برکتناکه رڼا دومره خپره شوه چې په برکت یې نن اروپا په ټوله بشري نړۍ کې د علم او خیرنو په ډګر کې هغه وتلې ځیره ده چې نور ولسونه ورپسې وړې هم نه شي راټولولای

ګوستولوبون وایي: که اسلامي تمدن اروپا ته نه وای ننوتی ښایي نن د اروپا تمدن سوونه کلونه وروسته پاتې وای

د اسلامي تمدن په برکت په اندلس کې د زرګونو علماوو استعدادونه وپنځیدل، د وهم، خیال او باطلو انګیرنو طلسمونه له منځه ولاړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې يو مهال په اروپا کې درې زره مخترعين د اختراع په جرم په دار وځړول شول، مګر اوس داسې وخت هم پرې راغی چې د مخترعينو ټولنيز حيثيت تر ټولو لوړ ارزول کيږي او تر هر چا زيات نازول کيږي.
اروپايانو به خپل بچيان مسلمانانو ته د سالمې او علمي تربيې لپاره راوستل او د خپلو مشرانو پر ځای د مسلمانانو په مشرۍ خوشحاله کيدل، تاريخ ډير داسې شواهد راټول کړيدي چې خلک به دمسلمانانو مشرانو ته راتلل او ورته ويل به يې چې زمونږ مشران ظالمان دي، مونږ ته له هغوی څخه نجات راکړئ او زمونږ مشري تاسو واخلئ.
اما کله چې مسلمان حاکمان د خيټې او شهوت په بندګۍ بوخت شول او د نورو ولسونو له تورتم څخه راويستل ورڅخه هير شول نو د ولسونو اعتماد ورباندې له منځه ولاړ،... مسلمانو ولسونو د تورتم په داسې بيديا کې د خپلو ظالمو او شهوت پالو حاکمانو سزا تيره کړه چې نن يې مونږ يوازې په لوستلو خپلې اوښکې نه شو ټينګولای.
دا چې مسلمانانو په اندلس کې اته سوه کلونه حکومت وکړ او اته پيړۍ وروسته دومره کمزوري شول چې په لکونو مسلمانان دظالمو يرغلګرو د لاسه له تيغه تيريږي او اندلس يې داسې لاسه وځي چې مسجدونه يا سوځول کيږي او يا کليساګانې ترې جوړيږي. مسلمانانو ته لوی درس دی چې د شهوت په دام کې د ښکيل شويو چارواکو د تائيد او حمايت څخه لاس په سر شي او د داسې چارواکو په لټه کې شي چې شهواني غوښتنې يې د عقلي ځواکونو په وړاندې مغلوب وي، زړونه يې سپيڅلي او خلکو په دردمن وي، د خلکو د هونو ترجمان او دردونو درملوونکي وي.
متأسفانه اوس هم دغه ترخه تجربه بار بار تکراريږي، حتی پوهان خلک ګورم چې د واک د خاوندانو په دسترخوان د يو ملنګ په څير ناست وي، د نصيحت او اشتباهاتو ته د ځير کولو پر ځای د هغه په ستايلو او غوړه ماليو لاس پورې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په داسې حال کې چې (( بئس العالم على باب الا مير ونعم الامير على باب العالم )) تطبيق او ديني عالمانو روزنه په همدې قاعده باندې د مسلمانو چارواکو د اصلاح او اسلامي ملتونو د نجات مهم عنصر دی.

زمونږ ورور عصمت الله زاهد مل چې د حقوقو او سياسي علومو له پوهنځي څخه په کدري نومرو فارغ دی، له کوچنيوالي داسې پيژنم چې د درنو خويونو او ښه شخصيت خاوند دی، دا کتاب يې په خپله خوښه او خپل ابتکار باندې وژباړه ،ژباړه يې روانه او خوږه ده.

ددې کتاب له ژباړې څخه معلوميږي چې ځان د اسلامي امت په دردونو دردمن او د اسلام د مبارک دين پورورې ګڼي او د عمر ابن خطاب (رضي الله عنه) غوندې په دې باور دی چې مونږ هغه قوم يو چې الله تعالى د اسلام په دين عزتمند کړو، تر هغه چې د اسلام نه بغير په بل څه کې عزت لټوو ذليل کيږو. زه فقط دومره دعاء ورته کوم چې الله تعالى دې ورته عقلي او روحي استعدادونه وپنځوي او د اسلامي امت لپاره يې د خير سرچينه وګرځوي

استاذ محمد ناصر حليمي
د ننګرهار عالي دارالمعلمين استاذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له غرناطې څخه دې د سړيو په شان دفاع ونه کړه! اوس پرې د ښځو په شان مه ژاړه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَمَّا بَعْدُ:

(إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ). (الرعد: ۱۱)

ژباړه: بې شکه الله جل جلالهُ هېڅکله د يو قوم حالات نه بدلوي، تر څو چې هغوی په خپلو اوصافو کې بدلون نه وي راوړی.

دا چې اندلس د مسلمانانو له لاسه ووت، ډېر لاملونه يې درلودل، خو زه به په هغو دوو سترو لاملونه خبره وکړم، چې له امله يې اندلس د مسلمانانو له لاسونو څخه ووت او د نصرانيانو لاسونو ته پرېوت.

د الحمراء د ماڼۍ په سر چې د صليب نښنه ولګېده، لامل يې دا و چې د اندلس خلکو هغه څه ته شا کړې وه، چې په واسطه يې کلونه پخوا اندلس د مسلمانانو لاسونو ته ورغلی و.

ځوانانو او علماؤو د هغه څه تعليم او تعلم پرېښودی و، چې اندلس يې پرې خپل کړی و! د خلکو له زړونو څخه د هغه څه مينه او محبت وتلی و، چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله يې دوی د اندلس په خاوره واکمن شوي وو، ځوانان يې د دوی غلامان او پېغلې يې د دوی وينځې وې!

د اندلس د پرله پسې ښارونو د لاسه ورکولو ستر لامل د هغه څه پرېښودل و، چې له امله يې طارق بن زياد (رحمه الله) او موسی بن نصير (رحمه الله) د اندلس پرله پسې ښارونه نيول!

خبره نه اوږدوم، جهاد يادوم! د جهاد پرېښودل او د علماؤو خپل مسؤليت نه ادا کول هغه څه وو، چې له امله يې اندلس د مسلمانانو له لاسه ووت. په اندلس کې د سقوط علامې له همغې ورځې راښکاره شوې، له کومې ورځې چې د اندلس علماؤو په فروعي مسائلو په خپلو منځونو کې بحثونه او مناظرې پيل کړې.

لاسونه بايد چېرته کېښودل شي، امين په جهر وشي او که په پټه؟ رفع اليدين وشي او که نه؟ د لومړي تکبير وروسته بايد لاسونه تر اوږو پورته شي، که تر غوږو؟ او داسې نور... دا ټول هغه څه وو، چې اندلس يې له بربادۍ سره مخ او په اندلس کې يې د اسلام اته سوه کلن ځلاند او رپاند بيرغ رانسکور کړ.

د اندلس علماء په مباحاتو او مستحباتو کې اخته شول او اصلي هدف ترې پاتې شو، د دې يادول اړين نه بولم، چې دوی دغه کار په خپله خوښه کړی و او که د چا په لمسون يې کړی و، بلکې هر څه چې وو، په اندلس کې يې د اسلام اته سوه کلن لمر ډوب کړ.

بل داچې په اندلس کې د واک په سر شخړې رامنځته شوې، هر يو غوښتل چې د واک په ګدۍ کېني، تر دې چې تر واکه رسېدو پورې به يې له صلبيانو څخه په مرسته اخيستو کې هم شرم نه کاوه.

بل عمده لامل داو چې يهودانو او نصرانيانو اندلس کې داسې خلک پيدا کړل، چې دوی ته به يې کار کاوه او د همدغو کسانو په وسيله يې اندلس په څو برخو ووېشه، تجزيه يې کړ او په يو اندلس کې يې څو دولتونه جوړ کړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له امله يې يو پر بل اعتبار او اعتماد له منځه ولاړ او د خلكو له زړونو
څخه اسلامي مينه ووتله
زه په ډېر افسوس سره وايم چې د بې اتفاقۍ دغه توره او ړنده سېلۍ كه څه
هم كلونه پخوا په لوی افغانستان كې را الوتلې ده، خو حالاتو ته په كتو سره
به د دغې سېلۍ راوړونكي او ملا تړ كوونكي په افغانستان كې داسې نه
هېرېدونكې او نه جبرانېدونكې پښې رامنځته كړي، لكه څنګه چې په
اندلس كې رامنځته شوې وه.
غرب د يو څو بې ضميره او بې احساسه افغانانو په اوږو ناست راغلی او د
بې وزله او مظلومو افغانانو له بې وسۍ او سپېڅلې مسلمانۍ څخه په ګټه
اخيستو خپل شوم پلانونه د همدغو بې وژدانو په مرسته عملي كوي، دا
هغه كسان دي، چې واک ته د رسېدو لپاره له هر څه تېر دي
له بله پلوه د افغانستان محترمو علماؤو هم په خپلو خولو لاس اېښی او له
حق ويلو يې خپلې خولې منعې كړې دي، د افغانستان علماء هم نن سبا په
هغو مسائلو كې بوخت دي، چې له امله يې اندلس له سقوط سره مخ شوی و،
په دوی د يو كشر ورور په حيث غږ كوم، وړاندې له دې چې د اندلس تاريخ
په لوی افغانستان كې تكرار شي، له دغو وړو وړو مسائلو تېر شئ، ځكه دا
د ښمن چال او فريب دی، چې د وخت علماء يې په دې مسائلو بوخت كړي او
دوی په اندلس كې كامياب شوی پلان په لوی افغانستان كې تطبيقوي
د وخت علماؤو ! حالاتو ته په كتو (په افغانستان كې) تش په نامه اسلام هم
په ړنګېدو دی، الله مكړه كه دغه تاريخ تكرار شي، ذمه وار به يې تاسو
ياست !.
وړاندې له دې چې د ابو عبدالله په څېر راته مېندې همغه پېغور راكړي، لكه
د ابوعبدالله مور چې ابوعبدالله ته وركړی و، يعنې چې په مېړانه مو له دين
څخه دفاع ونه شوه كړای، نو اوس پرې د ښځو په څېر اوښكې مه تويوئ!
ابو عبدالله د مور دا خبره چې خپل زوی ابوعبدالله ته يې كړې وه، چې
غرناطې څخه دې د سړيو په شان دفاع ونه كړه ! اوس پرې د ښځو په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژاړه، يواځې خپل زوی ته پېغور نه و، بلکې مونږ او تاسو او د نړۍ هر مسلمان او هر ځوان ته يو ستر نصحيت دی، مټې به وهئ او په پوره مېړانه د نړۍ په هر کونج کې له خپل محمدي (صلی الله عليه وسلم) دين څخه دفاع وکړئ.

په پای کې په ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه ځوانانو باندې غږ کوم، چې دغه کتاب خامخا ولولئ او له خپل زرين تاريخ څخه ځان خبر کړئ.

يو وخت و چې د ځمکې په سر راج مې غړېده
ځلانده اسلامي نوراني تاج مـــــې ځلـېده

(کامران هجومي بروال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی درس

نحمده و نستعينه و نستغفره و نومن به و نتوكل عليه و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا، من يهد الله فلا مضل له و من يضلل فلا هادي له و اشهد ان لا اله الا الله وحد لا شريک له و اشهد ان محمد عبده و رسوله، اما بعد:

زمونږ دغه موضوع چې غواړو بحث پرې وکړو، د اسلامي تاريخ د ډېرو مهمو موضوعاتوله جملې څخه ده، چې هغه د اندلس اسلامي تاريخ دی او زمونږ د بحث د دغې مجموعې نوم ((اندلس له فتحې څخه تر سقوطه)) دی.

کېدای شي ځينې خلک پوښتنه وکړي، چې ولې بايد د اندلس تاريخ مطالعه کړو؟ زيات خلک مسلمانان ملامتوي او وايي چې تاسې په هغه څه خپګان کوئ او ژاړئ، چې تېر شوي دي، هر څه چې تېر شول، هغه هسې هم تېر شول، مونږ په اوسنۍ زمانه کې ژوند کوو، بايد اينده وخت ته سوچ وکړو، ولې حقيقت د دې برعکس دی، ځکه که مونږ قرانکريم ته وګورو، نو د هغه درېيمه برخه پخوانۍ کيسې دي او دغه کيسې الله جل جلالهُ په قرانکريم کې د خپل مخلوق د عبرت او تربيې لپاره بيان کړې دي، چې پدې کې د نېکو خلکو کيسې، د بدو خلکو کيسې، د انبياوو کيسې او د هغوی د پيروانو کيسې بيان شوې دي او همدارنګه دهغو خلکو کيسې هم بيان شوې دي، چې د الله جل جلالهُ له لارې څخه خارج شوي دي او دا چې څنګه الله جل جلالهُ دغه خلک د خپلو اعمالو په سزا ورسول او د دوی خاتمه څنګه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرانکریم په حقیقت کې یو داسې کتاب دی، چې د ژوند لاره بیانوي او په دې باره کې زیات ایتونه موجود دي، چې مسلمانان نبې لارې ته رابلي، لکه الله جل جلاله چې فرمايي:

(فَٱقۡصُصِ ٱلۡقَصَصَ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ ) (الاعراف ۱۷۶ )

ژباړه: نو بیان کړه دوی ته دغه کیسې، د دې لپاره چې دوی فکر وکړي بل ځای کې الله تعالی فرمايي:

[لَقَدۡ كَانَ فِي قَصَصِهِمۡ عِبۡرَةٞ لِّأُوْلِي ٱلۡأَلۡبَٰبِۗ ] (یوسف ۱۱۱ )

ژباړه: خامخا شته په کیسه د دوی (یوسف (علیه السلام) او نورو انبیاوو ) کې عبرت د عقل خاوندانو لپاره.

الله تعالی (جل جلاله) عبرت یوې معینې طایفې ته خاص کړی، چې فرمايي: (لا ولی الالباب ) یعنې هغو کسانو ته چې عقل او پوهه ولري، په همدې شکل کله چې کیسه په عام شکل وایوو، هغه که د قرانکریم کیسې وي که اسلامي تاریخ وي او یا غیر اسلامي تاریخ وي، د هغې په پوهېدو کې باید فکر او سوچ وکړو او د هغې شا او خوا ته باید نظر وکړو، تر څو دهغې څخه درس واخلو، چې دلته هم داندلس د تاریخ دبیانولو څخه زمونږ هدف دخلکو داحساساتو راپارول نه دي او نه هم په تېرو تمدنونو باندې ژړا او خپګان دی، بلکې زمونږ هدف ترې دا دی چې خلک ترې درس او عبرت واخلي، همدارنګه داسې یوه توقع ده چې د اسلامي اندلس د تاریخ په باره کې یو څه ولیکو، کېداې شي چې ټولې پېښې او دهغې تفصیلات په دې خور،وور بحث کې را یو ځای نه شم کړای، خو بیا هم د الله تعالی (جل جلاله) په مرسته او کومک په دې لاره کې قدم ږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بحث په شروع کې د تاریخ د صحیح او دقیق تحلیل لپاره کوښښ کوو، تر څو زیاتې صفحې لیرې کړو او هغه پېښې را واخلو، چې د کلونو په اوږدو کې د خلکو له نظره لوېدلې دي او هغه څه چې زیاتره دا کوښښ کوي، چې هغه پټ کړي، دلته یې ښکاره کوو، همدارنګه هغه څه چې خلکو ورته درواغ ویلي، په داسې حال کې چې هغه رښتیا دي او هغه څه چې خلکو ورته رښتیا ویلي، په داسې حال کې چې هغه درواغ دي، روښانه کړم، ولې چې زیاتو خلکو کوښښ کړی، چې اسلامي تاریخ ګډوډ کړي، چې دا یو لوی جرم دی او باید مسلمانان ترې وي.

په ابتداء کې باید په سنن الله جل جلالهُ باندې وپوهېږو، چې الله تعالی ثابت سنن او قوانین لري، هېڅ تغیر او تبدیل پکې نه شي راتلای، لکه څرنګه چې فرمایي:

[فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلاً ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلاً]

(فاطر: ۴۳)

ژباړه: نو ته به هېڅکله د الله په کړنلاره کې څه بدلون ونه مومې او ته به هېڅکله ونه وینې چې د الله جل جلالهُ کړنلاره، د هغه له ټاکلې لارې نه کوم ځواک واړولای شي.

ښکاره شوه چې د الله تعالی (جل جلاله) قوانین ثابت دي او تغیر پکې نه شي راتلای، لکه اوبه چې په سل درجو د سانتي ګرید کې په جوش راځي، نو تر قیامته به په همدې درجه کې په جوش راځي او که نن اوبه په دیرشو درجو کې په جوش راشي او سبا په پنځوس درجو کې په جوش راشي، نو بیا د انسان ژوند په دې حالت کې استقامت نه شي کولای، ځکه چې یوه ورځ د بلې سره فرق لري، خو بعضې استثناءات

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم موجود دي، لکه اور چې مهمترين خاصيت يې سوځول دي، خو ابراهيم (عليه السلام) يې ونه سوځاوه، چې دا يوه استثناء وه او يو پوه او هوښيار مسلمان په استثناءاتو باندې متکي نه وي، بلکې په ثابتو قواعدو باندې متکي وي.

نو ايا يو مسلمان کولای شي، چې د استثناء پر بناء خپل لاس اور ته وراندې کړي؟ او ووايي چې ابراهيم (عليه السلام) اور نه دی سوځولی، نو ما به هم نه سوځوي؟ بلکې دا په هېڅ صورت جائز نده، همدارنګه که څوک نور څه په نظر کې نيسي، هم کولای شي، لکه انسان او حيوان نه شي کولای چې په عمومي ډول، له اوبو او خوراک څخه پرته ژوند ترسره کړي، چې دا هم د الله تعالی (جل جلاله) يو ثابت قانون دی او تغير نه کوي، نو که يو څوک ووايي چې زه بغير د خوراک او اوبو څخه ژوند کوم، نو شونې نه ده.

په همدې ډول الله تعالی (جل جلاله) انسانانو ته د فساد څخه د اصلاح لور ته او د اصلاح څخه دفساد لور ته، د تللو لپاره ثابت قوانين رالېږلي دي، چې هېڅ تغير او تبديل پکې نه شي راتلای، نو که چا په همدې قوانينو عمل وکړ، خاتمه به يې د الهي قوانينو مطابق وي او دغه کس به کامياب وي.

کله چې مونږ تاريخ لولو او صفحې يې اړوو، نو ګورو چې تاريخ په عجيبه شکل سره تکرارېږي، په دې معنی چې مونږ کله تاريخ لولو، داسې زمونږ ذهن ته راځي چې زر کاله پخوانۍ پېښې يا دهغې څخه هم پخوانۍ پېښې اوس تکرارېږي، يوازې نومونه تغير کوي او پېښې همغه پخوانۍ دي. مطلب دا، کله چې مونږ تاريخ لولو داسې مثال لري چې اينده وخت د تېرو پېښو سره لولو، لکه څرنګه چې د الله تعالی (جل جلاله) قوانين ثابت دي او کوم تغير پکې نه شي راتلای او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه الله تعالی (جل جلاله) دا هم بیان کړي دي چې څوک په کومه لاره ځي او دهغې عاقبت څه دی؟ نو عقل مند او هوښیار مسلمان هغه څوک دی! چې خپلې پخوانۍ خطاګانې تکرار نه کړي او دهغو کارونو څخه ډډه وکړي، کوم چې د هغوی د تباهۍ باعث شوي دي او هغه کارونه تر سره کړي، چې په کومو باندې هغوی کامیابۍ ته رسېدلي دي او همدارنګه دهغو کسانو په لاره باندې روان نه شي، چې د الله تعالی (جل جلاله) دقوانینو سره په ټکر کې وو.

## مونږ ولې د اندلس تاریخ مطالعه کوو؟

د اندلس تاریخ ځکه مطالعه کوو، چې د اندلس تاریخ د اتو سوو کلونو څخه زیات، یو اسلامي تاریخ دی.

د ۹۲ هـ څخه تر ۸۹۷ هـ کال پورې، یعنې اته سوه پینځه کاله داندلس تاریخ یو اسلامي تاریخ دی، نو دا به عجیبه وي، چې مسلمانان په دغه اسلامي تاریخ، چې د اته سوه کلونو څخه یې زیات دوام کړی؛ پوه نه شي. او بله دا چې داندلس تاریخ زیاتې تاریخي دورې لیدلي دي او ډېرې تاریخي دورې پکې ښکته پورته شویدي، نو د الله تعالی (جل جلاله) قانون په اندلس کې ښکاره دی، ځکه چې په اندلس کې زیات خلک لوړو پوړیو ته رسېدلي او زیاتو خلکو پکې سقوط او شکست خوړلی، د اندلس په تاریخ کې قسم،قسم خلک تېر شوي دي، چې په هغوی کې زړور مجاهدین، ډارن او ویریدونکي خلک، د خپل ځان او وطن سره امانتداره او د خپل ځان او وطن سره خیانت کوونکي هم پکې تېر شوي دي، نو بې له شکه د دغه تاریخ لوستل دمسلمانانو لپاره ډېر ګټور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس وګورئ چې څو نفرو د برباط د درې په باره کې اوریدلي دي، په داسې حال کې چې هغه د اسلام د جنګونو څخه یو ډېر مهم جنګ دی، چې په هغه کې اندلس فتحه شو او دغه جنګ د یرموک او قادسیې د جنګ سره مشابهت لري او ایا د طارق ابن زیاد (رحمه الله) له خوا د کښتیو سوځول حقیقت لري او که هسې یوه خیالي خبره ده؟ زیات خلک د دې کیسې په حقیقت او تفصیلاتو باندې نه پوهېږي، عبدالرحمن الداخل (رحمه الله) څوک دی؟ او د تاریخ څومره پوهان هغه پېژني؟ په داسې حال کې چې زیاتره مؤرخین وایي چې که عبدالرحمن الداخل (رحمه الله) نه وای، نو اسلام به په هماغه زمانه په اندلس کې په کُلي شکل ختم شوی وای او عبدالرحمن ناصر (رحمه الله) څوک دی؟ هغه په منځنیو پېړیو کې د اروپا د لویو پاچاهانو له جملې څخه دی، هغه څنګه دغې درجې ته ورسېد؟ او څنګه په خپل وخت کې د نړۍ د لویو قدرتمندو څخه ګرځېدلی ؤ؟ د ذلاقه جنګ سر لښکر یوسف ابن تاشفین (رحمه الله) څرنګه نشأت وکړ او په څه ډول یې خلک د جهاد د زندګۍ سره اشنا کړل او څرنګه یې د مسلمانانو د حاکمیت ساحه پراخه کړه؟ د ابوبکر ابن عمر لمتونی (رحمه الله) نوم چا اوریدلی دی؟ دا هغه مجاهد دی چې په کوښښ سره یې د (۱۵) څخه زیات افریقایي هېوادونه د اسلام په مبارک دین کې داخل شول.

ابو یوسف یعقوب المنصور څوک پېژني؟ دی د ارک د جنګ قوماندان دی، چې په دې جنګ کې د عیسایانو زیاتې قلعه ګانې ورانې شوې او لویه فتحه الله جل جلالهُ د مسلمانانو په نصیب کړه.

د موحدینو د دولت په اړه او دا چې دغه دولت څرنګه سر اوچت کړ، څوک پوهېږي؟ د قرطبي د مسجد نوم چا اوریدلی دی؟ هغه چې د نړۍ یولوی مسجد ؤ او په کلیسا بدل شو او تر ننه پورې په هماغه حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



باقي پاتې دی، د اشبيلي د مسجد په اړه چا اوريدلي دي؟ د قرطبي دپوهنتون او د امويه کتابخانې نوم چا اوريدلی دی؟ د الزهره دمانۍ او دالزهره دښار نوم چا اوريدلی دی؟ او دالحمراء د مانۍ نوم چې تر اوسه پورې په هسپانيا کې د سياحت له نظره ډېر غوره ځای حسابيږي او مسلمانان او غير مسلمانان يې د ليدو لپاره ورځي، چا اوريدلی دی؟ د العقاب د جنګ په باره کې مو څه اوريدلي دي؟ چې په هغه کې مسلمانان سره د دې چې د تعداد په لحاظ سره ډېر زيات وو، خو د لوی شکست سره مخ شول. بالکل داسې لکه د حُنين جنګ چې د تېر څخه را ګرځېدلی وي او دالعقاب په جنګ کې بيا تکرار شوی وي، تاريخ پوهانو ليکلي چې د دغه جنګ څخه وروسته په اندلس کې يو نېک مسلمان هم دجهاد لپاره نه تر سترګو کېده، ځکه چې پدې جنګ کې د اتيازرو څخه زيات مسلمانان شهيدان شول.

اندلس څرنګه سقوط وکړ او د سقوط عوامل يې څه وو؟ او که چېرته هغه عوامل بيا تکرار شي، بيا هم د مسلمانانو د سقوط باعث ګرځي، کله چې په اندلس کې د اسلام لمر غروب وکړ، نو د همدې سره په يو وخت کې د اسلام ځلانده لمر په قسطنطينيه او شرقي اروپا کې راوخوت.

دبلنسيې فاجعه څه ده او څنګه پکې اتيازره مسلمانان په يوه ورځ په قتل ورسېدل؟ د اوبدې فاجعه څه ده؟ او د بربشتر فاجعه څه ده او په څه ډول پکې څلويښت زره مسلمانان په يوه ورځ کې قتل شول؟ او همدارنګه د بربشتر په فاجعه کې په څه ډول اويا زره مسلماني پيغلې بندياني شوې؟ دغه ټول حالات په اندلس کې تېر شوي دي چې اوس په همغه قسم حالات په بوسنيا، هرزه ګونيا او نورو اسلامي هېوادونو کې ګورو، چې تکراريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اندلس اته سوه کلن تاریخ یوه حقیقي سرمایه ده، چې د علم، تجربو او عبرتونو څخه ډکه ده، داچې د ټولو پېښنو بیانول دلته ممکن ندي، نو د زیاتو معلوماتو د حاصلولو لپاره ضروري ده، چې نوره پلټنه وشي او د اسلامي اندلس اته سوه کلن تاریخ چې د اسلامي څوارلس سوه کلن تاریخ یوه برخه ده، په صحیح ډول مطالعه شي، تر څو په هغه څه چې باید ترسره شي او په هغه څه چې باید ترې ځان وساتل شي، پوه شو.

د اندلس له فتحې څخه تر سقوط پورې یعنې له ۹۲ هـ = ۷۱۱ م څخه تر ۸۹۷ هـ =۱۴۹۲ م پورې د اندلس ټول اسلامي تاریخ له داسې پېښنو څخه ډک دی، چې د هغې په اړه دانسان ذهن ته ډېر سوالونه راځي، کوښښ کوو تر څو دغو سوالونو ته ځوابونه پیدا کړو.

سوال دا دی چې ولې مسلمانانو خپلې تورې تر ملا وتړلې او د اندلس د فتحې په نیت د هغه هېواد طرف ته روان شول؟ په داسې حال کې چې په هغه وخت کې اندلس یو خپلواک هېواد ؤ، چې د نصاراوو تر حاکمیت لاندې ؤ او مسلمانان یې په ګاونډ کې پراته وو، نو بیا ولې مسلمانانو تورې راوویستې او د هغه هېواد په طرف روان شول؟ او خپل درې ګونې شرطونه چې عبارت له اسلام، جزیه او یا جنګ څخه دی هغوی ته وړاندې کړل؟ چې دغه عمل د اوسني بین المللي قانون له مخې د یو مستقل هېواد په حدودو باندې تېری دی.

د دغه سوال څخه زیات خلک ډېره بې اساسه او د حقیقت څخه لیرې نتیجه اخلي او وایي چې اسلام دتورې په زور خپور شوی دی، خصوصا د سیکولریزم د طریقې پیروان دغه خبره زیاته یادوي.

همدارنګه الله تعالی په خپل عظیم کلام قران عظیم الشان کې فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



[لَآ إِكۡرَاهَ فِي ٱلدِّينِۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشۡدُ مِنَ ٱلۡغَيِّۚ ] (البقره ۲۵۶)

ژباړه: په دین کې جبر نشته، په تحقیق سره ښکاره شوې ده، سمه لاره (دایمان) له ګمراهۍ (کفر) څخه

نو سوال باقې پاتې شو، چې ولې بیا مسلمانان د توري په زور د هغه ځای د فتحې په نیت لاړل؟ په داسې حال کې چې الله تعالی فرمايي، چې په دین کې جبر نشته، د دې مسئلې د روښانتیا لپاره باید ووایو چې په اسلام کې دوه قسمه جهاد دی، یو د دفع جهاد دی او بل د طلب یا د دعوت د خپریدو جهاد دی، اول قسم جهاد یعنې د دفع جهاد د خپل وطن او خاورې څخه د دفاع په خاطر صورت نیسي، چې دغه قسم جهاد مسلمانان او غیر مسلمانان ټول مني، ولې دوهم قسم جهاد چې زیات خلک پرې نه پوهیږي، هغه د طلب یا د دعوت د نشریدو جهاد دی.

نو اسلام چې د الله تعالی اخرنی دین دی او قرانکریم د الله تعالی (جل جلاله) وروستی کتاب دی او الله تعالی (جل جلاله) اسلامي امت د دغه دین په خپرولو او خلکو ته د دغه دین په تعلیم ورکولو مکلف کړی دی او غیر اسلامي حکومت حتماً دا کوښښ کوي، چې د هغوی د هیواد خلکو ته دغه دین ونه رسیږي، نو پدې خاطر الله جل جلالهُ د مسلمانانو لپاره مشروع کړې ده، تر څو توري ته لاس کړي او که نه نو د هغو خلکو مسؤل او غمخوار څوک دی، چې کله پیدا شي نو داتعلیم ورکول کیږي چې عیسی (علیه السلام) خدای دی ؟ (العیاذ بالله) او دهغو کسانو مسؤل څوک دی، چې کله پیدا شي، نو ورته ویل کیږي چې غوا ستا اله او معبود دی؟ (العیاذ بالله) او څوک دهغو کسانو په اړه فکر کوي، چې کله پیدا شي، نو ورته ویل کیږي چې د عدم څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا شوی دی؟ نو څوک دي غیر د مسلمانانو څخه چې دغه خلک وپوهوي؟ الله تعالی(جل جلاله) حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د اخرني نبي په حیث رالیږلی دی او دهغه (صلی الله علیه وسلم) څخه وروسته نور انبیاء نه راځي، نو څوک دی چې په دې ګمراهانو باندې شاهدي ووایي؟ پرته له رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د امت څخه چې په دې اړه الله تعالی فرمایي:

[وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ ] (البقره ۱۴۳)

ژباړه: او تاسو مې مختاره ډله وګرځولئ، تر څو په خلکو باندې ګواه واوسېږئ او رسول ستاسو ګواه شي.

د اسلامي امت اهمیت ګواهي او شهادت دی، چې الله تعالی (جل جلاله) ته به وایي: ای الله (جل جلاله) مونږ د دوی خواته لاړو او ستا د دین تعلیم مو ورته ورکړ او ستا په لاره کې مو جهاد وکړ، خو دوی انکار وکړ او دغه شاهدي به یوازې اسلامي امت ورکوي.

طبعي ده چې کله مسلمانان غواړي د اسلام دعوت نورو امتونو ته ورسوي، نو داسې خلک حتماً پیداکېږي، چې د دوی په لاره کې دیوال شي، ځکه چې دغه خلک حاکمان دي او دوی ته دا ګټوره ده چې خلک دغیر الله عبارت کوي، ځکه کله چې د الله تعالی (جل جلاله) شریعت حاکم شي نو بیا حاکمیت د دوی د لاسونو څخه ووځي او د الله تعالی (جل جلاله) حاکمیت منل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې دوی داسې نه غواړي، نو ځکه د خپلو لښکرو او تورو سره د مسلمانانو په مقابل کې ودرېږي، نو په مسلمانانو باندې هم لازمه ده چې د خپلو لښکرو او تورو سره د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مقابل کې ودرېږي، تر څو د الله تعالی کلام د ټولو غوږونو ته ورسیږي.

مسلمانان لکه څرنګه چې تربیه شوي دي، د عامو خلکو په مقابل کې جنګ نه کوي، لکه څنګه چې عمر (رضی الله عنه) خپل فاتح لښکر ته فرمایلي وو( له الله (جل جلاله) څخه وویرېږئ، د عامو خلکو سره جنګ مه کوئ او دهقانان مه وژنئ، ځکه چې هغوی مغلوب دي او همدارنګه غیر د هغو کسانو څخه چې ستاسو سره جنګ کوي، نور هیڅ چا سره جنګ مه کوئ.

مسلمانان د یو وړوکي ناحقه اذیت څخه هم پرهیز کوي او د کوچنیانو، ښځو، بوډاګانو او هغو خلکو سره چې په عبادتخانو کې ناست وي، جنګ نه کوي، بلکې د هغو قوي خلکو سره هم مسلمانان جنګ نه کوي، کوم چې له مسلمانانو سره جنګ نه کوي، بلکې یواځې او یواځې د هغو خلکو سره جنګ کوي، څوک چې مسلمانانو سره جنګ کوي او د هغو بادشاهانو سره چې خلک یې خپل غلامان ګرځولي، مسلمانان جنګ کوي.

## ولې دعوت د لښکر سره تړلی دی؟

دلته پوښته کوونکی پوښته کوي، که دغه حاکمان مسلمانانو ته اجازه ورکړي، تر څو د هغوی هېوادو ته د الله تعالی د لارې د دعوت لپاره لاړ شي او خلکو ته دعوت وکړي، بیا خلک خپلې خوښې ته پرېږدي، که هره لاره خپلوي! دلته د مسلمانانو موقف څه دی؟ ولې خلک پرته د لښکر کشۍ څخه اسلام ته نه دعوت کوي او ولې په اندلس او روم کې دوی داسې کار ونه کړ؟ ایا په اندونیزیا، مالیزیا او فلپاین کې اسلام بغیر د تورې څخه د تجارت په اساس خپور نه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کې په دغو پورته هېوادو کې چې اسلام د تجارت په واسطه خپور شوی دا یوه استثناء ده، ځکه که تاریخ ته وګورو، نو په زیاتو هېوادونو کې اسلام د لښکرکشۍ په واسطه خپور شوی دی، لکه په فارسي امپراطورۍ کې چې په هغې کې عراق، ایران، افغانستان، پاکستان او د شوروي اتحاد ۱۵ یا ۱۲ دولتونه شامل وو، اسلام د لښکر کشۍ جهاد او سختو جنګونو په واسطه خپور شوی دی، همدارنګه د روم دولت او د شام په هېواد کې هم اسلام د جهاد په واسطه خپور شوی دی.

د قسطنطینې فتحه هم د چا څخه پټه نده او همدارنګه د شرقي اروپا هېوادونه لکه بلغاریا، رومانیا، یونان، مجارستان، چکوسلواکیا، د استرلیا ځینې برخې، یوګوسلاویا، قبرص او مالتا د عثماني خلافت په زمانه کې د فی سبیل الله جهاد په واسطه فتحه شول او د اسلام مبارک دین پکې خپور شو او تر ډېرې مودې پورې پکې د اسلام مبارک دین ژوندی ؤ، خو د وخت په تېرېدو سره پکې اسلام ختم شو.

همدارنګه د افریقا هېوادونه هم د في سبیل الله جهاد په واسطه فتحه شول او په هغې کې اسلام خپور شو؛ خو وروسته په استثنایي ډول د اندونیزیا او مالیزیا په هېوادونو کې اسلام د تجارت په واسطه خپور شو؛ ځکه په حقیقت کې هغه بادشاهان چې په خلکو حکومت کوي، هېڅکله مسلمانانو ته اجازه نه ورکوي چې د دوی د هېواد خلکو ته دعوت ورکړي؛ پدې خاطر الله تعالی (جل جلاله) جهاد مشروع وګرځاوه او د الله تعالی (جل جلاله) دا سنت به تر قیامته پورې جاري وي.

ځینې خلک وایي چې په غرب کې د دعوت لپاره ازادي شته، یعنې مسلمانان کولای شي چې هلته ولاړ شي او خلک د اسلام مبارک دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دعوت کړي او مسلمانان په پوره ازادۍ سره دا کار کولای شي، چې امریکا، انګلستان او فرانسې ته ولاړ شي او خلکو ته د اسلام دعوت په پوره ازادۍ سره ورکړي، خو لکه څنګه چې دوی فکر کوي، په حقیقت کې داسې نده، ځکه غربیانو دغه اجازه په بې خبرۍ سره نده ورکړې، بلکې په پوره باخبرۍ سره هغوی دغه کار کړی دی، ځکه هغوی پدې پوهېږي چې مسلمانان په دغو هېوادونو کې تر اوسه پورې دقدرت هغه درجې ته ندي رسېدلي، چې د دغو هېوادونو سیاست تر خپل تاثیر لاندې راوړي او هر کله چې غربیان پدې باندې وپوهېدل چې مسلمانان داسې حالت ته رسېدلي دي، چې د نوموړيو هېوادونو په سیاست باندې تاثیرات وارېدولای شي، نو بیا به هېڅکله دغه ازادي چې اوس یې مسلمانانو ته ورکړې ده باقي پاتې نه شي، په هماغه وخت کې به له منځه ولاړه شي او په خپلو هېوادونو کې به د اسلام دعوت ته هېڅکله اجازه ورنه کړي، بلکې په خپل ټول قوت سره به د هغوی په مقابل کې ودرېږي. غربیان د خپلو ممالکو د حدودو څخه بهر، نورو ممالکو ته اجازه نه ورکوي چې د هغوی په ملکونو کې دې اسلامي حکومت قایم شي.

دمثال په ډول سوډان چې تقریباً یو ضعیف هېواد دی، کله چې د دغه هېواد په ځینو ولایاتو کې د اسلامي شریعت د تطبیق اعلان وشو، نو ټوله نړۍ یې پر ضد راپاڅېدله او امریکا چې د غربي هېوادونو په رأس کې واقع ده، د سوډان د خرطوم په ښار کې یې د دواګانو د جوړېدو کارخانه پدې باندې متهمه کړه، چې پدې کارخانه کې کیمیاوي مواد جوړېږي، نو پدې بهانه یې هغه کارخانه بمبار کړه.

همدارنګه د فرانسې هېواد چې یو ازاد او متمدن هېواد دی، په ښکاره ډول په خپل هېواد کې د اسلامي دعوت د مخنیوي کوښښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، ځکه کله چې په دغه هېواد کې ورېږ نجونې ښوونځي ته په حجاب کې ځي، نو هغوی ښوونځي ته نه پرېږدي او کومې نجونې چې په بې شرمه او بې حیا لباس کې ښوونځي ته ځي، د هغوی استقبال کوي او هېڅ مشکل ورته نه وي، چې دا په ښکاره ډول د اسلامي دعوت مخنیوی دی، پداسې حال کې چې ښه پوهېږي چې اسلامي مفکوره د انساني روغ فطرت سره برابره ده او ډېر په اسانۍ سره خپرېږي، نو ځکه یې د خپریدو څخه مخنیوی کوي؛ چې دغه پېښه ټولو ته معلومه ده.

همدارنګه څو کاله مخکې د امریکا کانګرس پدې لټه کې و، چې داسې یو قانون په تصویب ورسوي، چې هر څوک د امریکا امنیت ته ضرر ورسوي، بغیر د دلیل څخه هغه ونیسي او قید یې کړي، پداسې حال کې چې دا د همغوی په وړاندې هم یو غیر قانوني امر دی، ځکه! کله چې د چا په جرم باندې ښکاره دلیل نه وي، د هغه ازادي باید سلب نه شي.

خو داسې دلایل شته چې اشاره کوي، کېدای شي په اینده کې دغه قانون په تصویب شي، تر څو پدې صورت کې دوی وتوانېږي چې د اسلامي دعوت مخه ونیسي او دا کار د امریکا د امنیت لپاره د اخلال سبب وګڼي.

نو دغه ممالک په هېڅ صورت کې د دې اجازه نه ورکوي، چې داعیان لاړ شي او خلک د الله تعالی لارې ته راوبلي، نو پدې خاطر لښکر ته ضرورت پېښېږي، تر څو هغو هېوادونو ته ولاړ شي، جهاد وکړي او هغه هېوادونه تر خپل کنټرول او حاکمیت لاندې راوړي، تر څو د اسلام د دعوت لپاره لاره هواره شي او که چېرته فرض کړو، چې یو هېواد به مسلمانانو ته د دعوت اجازه ورکړي، خو د هغې په مقابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زرګونو بې حيا فلمونه او په زرګونو د عيسايت د تبليغ کتابونه چې
پکې ليکل شوي، چې عيسی (عليه السلام) خدای دی (العياذ بالله)
نشروي او د خلکو د عقايدو د خرابوالی کوښښ کوي، نو په دې
صورت کې به اسلامي دعوت څنګه بريالی شي؟ نو پدې خاطر
ضروري ده، تر څو لومړی هغه هېوادونه د لښکر او جهاد په واسطه د
مسلمانانو تر کنټرول لاندې راوستل شي او بيا وروسته خلکو ته د
اسلام دعوت وشي، نو بيا مؤثر واقع کېږي.

## د اندلس د فتحې زمانه

اندلس په کومه زمانه کې فتحه شو؟ دا يو مهم سوال دی، ځکه پدې
باندې بايد وپوهېږو چې د اندلس فتحه د کوم خليفه په زمانه کې شوې
ده.

د اندلس فتحه په ۹۲ هـ کال کې چې د وليد ابن عبدالملک (رحمه الله)
د خلافت زمانه وه، يعنې دامويانو د خلافت زمانه وه سر ته ورسېده.
وليد ابن عبدالملک اموي (رحمه الله) په ۸۶ هـ چې د ۷۰۵ م سره سمون
خوري خليفه شو او په ۹۲ هـ =۷۱۵ م کې وفات شو، نو پدې حساب سره
ويلای شو چې د اندلس فتحه د وليد ابن عبدالملک (رحمه الله)
دخلافت په نيمايي کې سرته ورسېده او دغه تاريخ مونږ په اموي
دولت باندې د بحث لپاره د اسلام تاريخ ته بيايي، ځکه د هغوی په
باره کې خلکو زيات دروغ ويلي او غلطې پېښې يې په هغوی پورې
تړلي دي او ويلي يې دي چې اسلامي تاريخ يوائې د ابوبکر(رضی الله
عنه) او عمر (رضی الله عنه) په زمانه کې وجود درلود او حتی د
ابوبکر (رضی الله عنه) او عمر (رضی الله عنه) په تاريخ باندې يې هم
سره د ټولو فضيلتونو او خوبيانو بدې ويناوې کړې دي، چې د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو هدف د هیڅ چا څخه هم پټ ندی، څکه دغه خلک اراده لري، چې اسلامي تاریخ په صحیح ډول د خلکو اذهانو ته ونه رسیږي، نو ایا که چېرته د هغوی یعنې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زمانې ته د نږدې کسانو شان پدې قسم وای او یا د بني امیه او بني عباس شان پدې قسم واي، لکه څنګه چې بعضو خلکو بیان کړی دی، نو هغوی بیا کولای شوای چې دومره عظیم فتوحات سرته ورسوي؟ نه داسې نده، لکه څنګه چې ځینو خلکو د حقیقت او واقعیت څخه لیرې خبرې کړې دي، بلکې د هغوی هدف یواځې او یواځې دا ؤ، چې د الله تعالی (جل جلاله) پیغام ټولو خلکو ته ورسوي لکه چې الله تعالی (جل جلاله) پدې مبارک ایت کې فرمایي:

[يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَـٰفِرُونَ] (التوبه ۳۲)

ژباړه: اراده لري (کتابیان) دا چې مړ کړي نور (شریعت) د الله جل جلالهُ په خپلو خولو او منع راوړي (نه خوښوي) الله جل جلالهُ خو پوره کوي نور (شریعت) خپل او اګر که کافران د اکار بد ګڼي.

## زمونږ او د هغوی جنګونه

ځیني داسې خلک هم شته چې وایي: اوسنۍ زمانه د فتوحاتو او عسکري جنګونو زمانه نده، بلکې اوسنۍ زمانه د سولې، سیاست او مصلحت لرونکو مذاکراتو زمانه ده، خو حقیقت داسې ندی، څکه مونږ ګورو چې نظامي جنګونه په ټولو زمانو کې په جریان کې دي، خو سره د دې هم هغوی مسلمانان د خپلو پخوانیو فتحو په اساس چې په افریقا، فارس، اندلس او نورو ځایوکې یې سرته رسولي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملامتوي، ولې اسرائيل سره د ټولو جناياتو چې په فسلطين کې يې تر سره کوي، همدارنګه چې په ۱۹۶۷ م کې يې په مصر او سوريه کې تر سره کړل او همدارنګه چې د ۱۸ کالو په موده کې يې په لبنان کې کوم جنايات ترسره کړل، نه ملامتوي، ولې مسلمانان سره د دې چې د هغوی په داخليدو سره به په هغو هېوادونو کې عدل، رحمت او د يو الله تعالی (جل جلاله) عبادت خپريده ملامتوي؟.

اسرائيل نه ملامتوي، سره د دې چې اسرائيلو کوم هېوادونه اشغال کړي دي، په هغو کې داسې جنايات ترسره کوي، چې انسانيت ترې شرمېږي، خو مسلمانان چې په خپلو فتوحاتو سره يې نړۍ ته د امن پيغام رساوه، ملامتوي، همدارنګه امريکا نه ملامتوي چې د سوډان په خرطوم کې لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، د دوا په فابريکه يې بمبارد وکړ. همدارنګه امريکا چې په عراق باندې يې حمله وکړه او هغه يې تباه کړ، د هغه هېواد اقتصاد يې تباه کړ او زيات خلک يې شهيدان کړل، نه ملامتوي، خو مسلمانان چې دعلم د نشر لپاره، د رحمت او عدل د راوستلو لپاره نورو هېوادونو ته تلل، ملامتوي، په بوسنيا او هرزه ګونيا کې چې عيسايانو کوم ظلمونه وکړل، هغوی نه ملامتوي، په افغانستان کې چې امريکا کوم ظلمونه کوي، هغه نه ملامتوي، ولې مسلمانان چې په نړۍ کې يې امن او عدل قائمول غوښتل هغوی ملامتوي.

مسلمانان د هغو جمهوريتونو په فتحه کولو سره ملامتوي، کوم چې د روسيې په جنوب کې پراته دي، ولې روس او چين چې په دغو ممالکو کې هر ډول ظلمونه وکړل، نه ملامتوي.

ايا دغه ملامتي بايد مسلمانانو ته راجع شي، چې په نړۍ کې يې امن، امان او عدل راوړل غوښتل او که هغوی ته بايد دغه ملامتي راجع،

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې د تمدن، مدنیت او پرمختګ په نوم، د نورو ملتونو ازادي سلبوي او په هغوی باندې هر قسم ظلم چې د دوی خوښه وي؛ تر سره کوي؟

د اسلام تاریخ د شرافت، عزت او امن څخه ډک دی او هغه خلک چې مسلمانان د خپلو تېرو فتحو په اساس ملامتوي، دوی په حقیقت کې مسلمانان د خپل تاریخ څخه متنفره کوي او دا کوښښ کوي، تر څو مسلمانان په خپل تېر تاریخ باندې د شرم احساس وکړي، ولې په حقیقت کې د اسلام تاریخ د داسې پاکو او صافو صفحو څخه ډک دی، چې د مسلمانانو قدر او شان اوچتوي او په حقیقت کې د شرم څخه ډک او ملامت هغه څوک دی، چې د تمدن په نوم د نورو ټولنو ازادي سلبوي او فحشاء رواجوي.

## د مسلمان مسؤلیت

یو بل اعتراض هم موجود دی، چې وایي: خلک پرېږدئ! چې د هر چا تابعداري کوي، ودې کړي، مونږ ولې پدې ځان مشغولوو، چې خلک د یو الله تعالی (جل جلاله) عبادت ته رابلو؟ ولې هغوی ازاد نه پرېږدو، چې هر څه د هغوی زړه غواړي، هغه دې وکړي؟

ځواب دا دی چې الله تعالی مسلمانانو ته دا مسؤلیت سپارلی، چې د الله جل جلالهُ پیغام ټولو ته ورسوي، چې دغه مسؤلیت ابن عامر (رضی الله عنه) د فارس د لښکر له سپه سالار سره، د قادسیې د جګړې په موقع کې د محاورې په وخت کې داسې خلاصه کوي: (الله تعالی (جل جلاله)) مونږ رالیږلي یوو، تر څو د هغه بندګان د بندګانو د عبادت څخه خلاص کړو، د الله تعالی (جل جلاله) عبادت او همدارنګه د باطل دین څخه یې د اسلام حق دین ته راوبلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په دې دنيا کې دا ديو مسلمان مسؤليت دی، چې خلک به د بتانو او د بنده ګانو له بندګۍ څخه خلاصوي او د يو الله جل جلالهُ عبادت او بندګۍ ته به يې رابلي، لکه الله جل جلالهُ چې وايي:

(كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ) (ال عمران ۱۱۰)

ژباړه: تاسو بهترين امت ياست، چې د خلکو لپاره راوتلي ياست!.

همدارنګه په بخاري شريف کې له ابو هريره (رضی الله عنه) څخه روايت دی: له تاسو څخه بهترين خلک هغه څوک دي، چې خلک په زنځيرونو تړلي راوړي، تر څو اسلام کې داخل شي.

يعنې د دوزخ له اور او د حاکمانو د ظلم څخه ورته نجات ورکړي او اسلام ته چې د عدل دين دی راويې بلي.

پدې ډول چې يو کس خپل ځان د يو لوړ ځای څخه غورځوي او بل کس هغه کلک ونيسي او د غورځيدو څخه ورته نجات ورکړي، نو پدې صورت کې داسې څوک به پيدا شي چې دغه نجات ورکوونکی ملامت وګڼي، چې تا ولې هغه ته نجات ورکړ؟ په همدې شکل کله چې يو څوک په دنيا کې په غلطه لار روان وي، هغه حتماً دوزخ ته ځي، نو په دې صورت کې که يو کس هغه د غلطې لارې څخه د اسلام د مبارک دين حقيقي لارې ته راوبلي او هغه کس ته د دوزخ له اور څخه نجات ورکړي، نو ايا دغه کس ملامت دی، چې هغه بل کس ته يې د دوزخ له اور څخه د اسلام د حقيقي دين په واسطه نجات ورکړ؟

په همدې ډول ځينې نور خلک دي، چې د لښکر کشۍ په واسطه دا کار کوي، يعنې خلک د اسلام دين ته رابلي، تر څو د دوزخ د اور څخه نجات پيدا کړي، ځکه هغه څه چې د لښکر په واسطه نشريږي، هغه خاص د دعوت په اساس نه خپريږي، ځکه داسې خلک هم شته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاً دعوت ته غوږ نه نیسي، نو پدې صورت کې لښکر ته ضرورت پېښېږي، تر څو خلک دعوت ته غوږ ونیسي او پدې وپوهېږي چې څه مونږ ردول، په هغې کې زمونږ نجات دی او څه مو چې کول، په هغې زمونږ تباهي ده؛ نو بیا په خپله د اسلام دعوت قبلوي او د نجات لاره ځانته ټاکي؛ که مونږ د اسلام تاریخ ته یو ځغلنده نظر وکړو، نو داسې ډېرې پېښې به مو تر سترګو شي.

کله چې د اسلام لښکر په فاتح ډول نورو هېوادونو ته داخل شوی دی، نو خلک ډلې، ډلې په خپله خوښه او بدون له جبر څخه د اسلام په مبارک دین کې داخل شوي دي او نجات یې موندلی دی.

بعضې خلک وایي چې نورو ملکونو ته د اسلام د لښکرونو داخلیدل، د دې ایت سره مخالف عمل دی: (لا اکراه فی الدین) (البقره ۲۵٦)

ژباړه: په دین کې جبر نشته.

خو دغه ړوند فکري او بې عقله خلک د دې ایت په سمه معنا نه پوهېږي او له دې ایت څخه یې غلطه معنا اخیستې، په حقیقت کې نورو هېوادونو ته د اسلامي لښکرونو ننوتل، د دې مبارک ایت سره مخالفت ندی، ځکه هر کله چې مسلمانان نورو هېوادونو ته داخلیدل، نو خلکو ته به یې د اسلام ښوونه کوله، وروسته له هغې به یې خلکو ته اختیار ورکاوه، چې اوس ستاسو خوښه! اسلام قبلوئ او که په خپل پخواني دین پاتې کېږئ.

### اسلام ته د ټولو اړتیا:

د نړۍ ټول خلک د اسلام مبارک دین ته ضرورت لري، ځکه چې اسلام د سلامتۍ او امن دین دی او که چېرته خلک د اسلام دین ونه مني، نو بې له شکه چې د زیاتو مشکلاتو سره به مخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثلاً که د نړۍ لویو دولتونو ته وګورو، هلته چې د اسلام مبارک دین نشته، نو د هغوی قوانین د ډېر ظالمانه دي، په خاصه توګه د غریبو او نادارو خلکو لپاره او همدارنګه اخلاقي ناروغیانې پکې له حده زیاتي شوي دي کېدای شي تاسو د ایډز AIDS د کنفرانس په باره کې اوریدلي وي چې د (۲۰) کلونو په موده کې یعنې د ۱۹۸۰ م څخه تر ۲۰۰۰ کال پورې شل میلیونه خلک د دغې وژونکې ناروغۍ په اساس هلاک شوي دي، چې د دوی څخه یې تر ټولو کمترین تعداد د اسلامي هېوادونو څخه دی. او کېدای شي چې دا طبعي نتیجه وي او دغه مرض الله تعالی (جل جلاله) د هغو کسانو لپاره پیدا کړی وي، چې د الله تعالی (جل جلاله) د دین او شریعت څخه لیرې وي.

که چېرې مونږ اسلامي فتوحاتو او جنګونو ته وګورو، نو په هغه کې یو پر سلمه برخه د شل میلیونو هم ندي وژل شوي، علاوه له دې چې ۳۷ میلیونه نور انسانان د دغه وژونکې ناروغۍ له امله د مرګ انتظار کوي، چې دا ټول د اخلاقي فسادونو او د اسلام د مبارک دین څخه د لیرې والي او د الله تعالی (جل جلاله) د حکمونو څخه د نافرمانۍ نتیجه ده.

## د اندلس پېژندنه

په شروع کې باید د اندلس د معنی او تاریخ په اړه یو څه ووایو: د اندلس هېواد څخه نن ورځ دوه دولتونه جوړ شوي دي، چې عبارت دي له هسپانیا او پرتګال څخه او یا د ایبیریا له نیمې جزیرې څخه، چې مساحت یې شپږ سوه زره کیلو متره مربع دی.

دغه هېواد ولې د اندلس په نوم نومول شوی دی؟ د دې سبب دا دی چې په هغه ځای کې ځینې قبایل اوسیدل، چې د سویډن، ډنمارک، ناروې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نورو هېوادونو څخه هلته راغلي وو او د زياتې مودې څخه هلته اوسيدل، همدارنګه داهم ويل شوي چې دغه قبايل د المان څخه هلته راغلي وو، خو زمونږ لپاره چې کوم شي مهم دی، هغه دا دی چې دغو قبايلو ته به په عربي ژبه کې الفندال يا الوندال ويل کېدل.

نو نظر همدغو قبايلو ته چې په نوموړي هېواد کې اوسيدل، دغه هېواد د فاندليسيا په نوم يادېده، چې د وخت په تېرېدو سره اندليسيا او اندلس ته بدل شو. دغه قبايل په وحشي قبايلو باندې مشهور وو، چې په انګليسي ژبه کې به يې ورته vandal i sm ويل، چې دغه اسم د غير متمدن په معنا دی، دغه قبيله بيا د اندلس څخه خارج شوله او د نصاراوو يوه بله طايفه چې په تاريخ کې د قوط (Ghots) يا غربي قوط په نامه ياده شوې ده، هلته حکومت ونيوه او د مسلمانانو تر ورتللو پورې د همدوی حکومت ؤ.

مسلمانان ولې دنورو ځايونو په عوض اندلس ته ولاړل ؟ دا ځکه چې مسلمانانو په هغه وخت کې شمالي افريقا فتحه کړې وه، نو د نورو فتوحاتو لپاره مسلمانانو ته دوه لارې وې، يوه دا چې د جبل الطارق د ابنا څخه تېر شي او هسپانيا او پرتګال ته چې په هغه وخت کې د اندلس په نوم يادېده ،ولاړ شي او دوهمه لاره چې د جنوب په طرف وه او هلته لويه صحرا وه، چې زيات مساحت يې درلود، خو نفوس پکې کم اوسيده. خو څرنګه چې د مسلمانانو هدف د خاورې نيول نه، بلکې د الله تعالی (جل جلاله) د پيغام رسول ؤ، نو پدې خاطر يې د شمال طرف غوره کړ، چې په لومړي سر کې اندلس پروت ؤ او د هغې څخه وروسته فرانسه وه او مسلمانانو په خپلو ټولو فتوحاتو کې هغه طريقه غوره کړې وه، کومه چې الله تعالی (جل جلاله) دوی ته ټاکلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ﴾ (التوبه ۱۲۳)

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، جنګ کوئ، له هغو کسانو سره چې نږدې وي تاسو ته له کفارو او ودې مومي دوی تاسې په کلکوالي او پوه شئ چې بېشکه الله تعالی (جل جلاله) له پرهیزګارانو سره دی.

د مسلمانانو دغه طریقه او روش په هغه محاروه کې ښه روښانه کېږي، چې د یرموک په غزا کې د رومیانو باد شاه د مسلمانانو د نماینده معاذ ابن جبل (رضی الله عنه) سره کړې وه. په دغه محاروه کې د روم بادشاه معاذ ابن جبل (رضی الله عنه) ته ویلي و. تاسو د حبشي هېواد نه فتحه کوئ ؟ معاذ (رضی الله عنه) ورته وفرمایل: تاسو هغه مملکت یاست. دکوم په باره کې چې الله تعالی (جل جلاله) مونږ ته په خپل پاک کتاب کې فرمایلي دي: معاذ (رضی الله عنه) ورته پورتنی ایت شریف ولوست او ورته یې وویل: زمونږ له ملک سره خواکې تاسو یاست. چې له همدې لارې به حبشې او نورو هېوادونو ته ځوو. یعنې حبشه مونږ هېره کړې نده. خو تاسو زمونږ د هېواد سره ګاونډیان یاست. له همدې امله لومړی ستاسې هېواد فتحه کوو.

## اندلس په کومه زمانه کې فتحه شو؟

اندلس د امویانو د خلافت په زمانه کې فتحه شو، اموي دولت یو قوي اسلامي دولت و. چې د دوی په زمانه کې زیات هېوادونه فتحه شول او هلته د اسلام مبارک دین خلکو ومنلو، چې د امویانو دغه کار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو ټولو بدو افواهاتو لپاره بس دی، چې خلکو په دغه دولت پسې کړي دي، ځکه شمالي افريقا په مکمل ډول د امويانو په زمانه کې فتحه شوه او هلته د اسلام مبارک دين ورسېده.

همدارنګه افغانستان او د منځنۍ اسيا جمهوريتونه د امويانو په زمانه کې فتحه شول او اسلام ورته ورسېد.

جهاد د امويانو په زمانه کې يو طبعي امر و، په ژمي او اوړي کې به خلک جهاد ته تلل، داسې ښکاريده، لکه خلک چې د خپل يو ډېر ضروري کار پسې ځي.

همدارنګه نبوي (صلى الله عليه وسلم) احاديث د دوی په زمانه کې تدوين شول او د الله تعالى (جل جلاله) شريعت د هغوی په دولت کې تطبيق کېده. د دې ټولو خوبيانو سره سره، د امويانو دولت ځينې خطاګانې هم درلودلې، ولې دغه خطاګانې بايد د هغوی د خوبيانو په مقابل کې هيرې شي.

امويانو د ۴۰ هـ = ۶۶۰م څخه تر ۱۳۲هـ = ۷۵۰ م پورې حکومت وکړ، چې اولنی خليفه يې جليل القدر صحابي معاويه ابن ابي سفيان (رضى الله عنه) ؤ، ده پسې هم خلکو دروغ تړلي او د حقيقت څخه ليرې خبرې کړي دي د معاويه (رضى الله عنه) څخه وروسته نور مشهور اموي خليفه ګان هم تېر شوي دي، لکه عبدالملک بن مروان او د هغه زامن لکه وليد، سليمان، يزيد، هشام، او همدارنګه پينځم راشد خليفه حضرت عمر بن عبدالعزيز (رحمه الله) هم د اموي خليفه ګانو له جملې څخه دی، چې نړۍ يې له امن او امان څخه ډکه کړې وه.

خو د امويانو د تاريخ بد وخت د هغوی د حکومت اخري اووه کلونه وو، چې زيات اختلافات پکې راپيدا شول، نو الله تعالى د دوی څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت واخیست او عباسیان یې قدرت ته ورسول، خو د اندلس فتحه د دوی د نېکو کارونو له جملې څخه یو کار ؤ، چې ترې پاتې شو.

## د اندلس له فتحې څخه مخکې د اروپا حالت

دا به مفیده وي چې د مسلمانانو په واسطه د اندلس تر فتحې د مخه د اروپا حالت په اړه یو څو خبرې ولیکو، خاصتاً د اندلس په باره کې چې د دغه هېواد د خلکو وضع تر اسلام د مخه څرنګه وه؟ او د اسلام د قبلولو سره یې څرنګه تغیر وکړ.

اروپا په هغه وخت کې د سخت جهل سره مخ وه، د ظلم قانون پکې چلېده، حاکمان د ملک د شتو مالکان وو او خلک د فقر او بېوسۍ سره لاس او ګریوان وو. حاکمان خپلو ځانونو ته د ماڼیو په جوړولو مصروف وو. پداسې حال کې چې عامو خلکو د اوسېدو لپاره سر پناه نه درلوده او په ډېره سخته بېوسۍ کې یې ژوند کاوه، بلکې کله به چې یو کس ځمکه خرڅوله، نو د هغې ځمکې بزګران به یې هم ورسره خرڅول، اخلاق د خلکو ډېر خراب وو، حتی خلکو خپلو حیاتي مسایلو ته هم پام نه کاوه، لکه وېښتان به یې نه اصلاح کول، ځانونه به یې نه مینځل، دا ځکه چې هغوی پدې عقیده وو، دغه چټلي چې د دوی پر بدن هر څومره زیاتېږي، په هماغه اندازه ورسره د دوی بدن صحتمند کېږي او خیر او برکت پکې دی.

ځینې خلک پدغه هېواد کې داسې هم وو، چې په اشارو سره به یې خبرې کولې، لیک او لوست خو څه کړې، چې د خبرو اترو لپاره یې ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه درلوده، د خبرو اترو لپاره یې داسې ژبه نه درلوده، چې بړې وغړېږي او د پوهیدو لپاره به یې اشارې کارولې او یو بل به یې پوهول. نو لیکل او لوستل به یې څنګه کړي وای

ځینې داسې عقاید هم په کې موجود وو، چې مړي به یې لکه د هندوانو په څیر سوځول او ښځه سره د دې چې ژوندۍ به وه، د خپل مېړه سره به یې سوځوله، نو اروپا په عمومي ډول د مسلمانانو د ورتګ څخه د مخه د ظلم او فقر سره مخ وه او د هر قسم تمدن او پرمختګ څخه لیرې وه.

دا د اندلس د تاریخ په اړه یوه مقدمه وه او په راتلونکو درسونو کې به انشاء الله د اندلس د تاریخ په اړه د زماني په ترتیب سره بحث وکړو، یعنې د فتحې څخه چې په ۹۲ هـ کال کې سر ته ورسېده، بیا تر ۸۹۷ هـ کال پورې، چې مسلمانانو په اندلس کې سقوط وکړ، په ترتیب سره خبرو. او لکه څرنګه چې ذکر شوي او بیا یې هم تکراروم، چې دا تاریخ د اندلس مکمل تاریخ ندی، بلکې د اندلس تاریخ ته لار پیدا کول دي.
(اقول قولی هذا واستغفر الله لی ولکم وجزاکم الله خیرا کثیرا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم درس

## د اندلـــس د فتحې دوره:

ان الحمد لله نحمده ونستعينه و نستغفره و نومن به ونتوكل عليه ونعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيئات اعمالنا انه من يهد الله فلا مضل له و من يضلل فلا هادى له و اشهد ان لا اله الا الله وحد لا شريک له و اشهد ان محمد عبده و رسوله.

په لومړي درس کې په ځينو مقدماتو باندې وغږېدو او پدې دوهم درس کې د اسلامي اندلس لومړۍ دوره مطالعه کوو، چې ((د اسلام د فتحې دوره په اندلس کې) په نوم، نومول شوې ده، چې په ۹۲ هـ کال کې شروع شوه.

## مسلمانان، د افريقا شمال او د اندلس فتحه:

د دې لپاره چې د اندلس په اسلامي فتحه باندې وپوهېږو، لومړی بايد د هغه ګاونډي هېوادونه، يعني شمالي افريقا وپېژنو، شمالي افريقا د اندلس د فتحې ځخه اويا کاله مخکې يعني په ۲۳ هـ کال کې فتحه شوه او هلته د اسلام مبارک دين ورسېد.

په شمالي افريقا کې د بربر په نوم يو لوی قوم اوسيده، چې کله به دغو خلکو اسلام قبول کړ او کله به بېرته مرتد شول، د مسلمانانو او بربر قوم تر منځ زيات جنګونه وشول، خو په ۸۵ يا ۸۶ هـ چې د ۷۰۴ يا ۷۰۵ م سره سمون خوري، په دغه علاقه کې يعنې په شمالي افريقا کې د موسی ابن نصير (رحمه الله) په لاس امن او امان قائم شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موسی بن نصیر (رحمه الله)

(۱۹هـ - ۹۵هـ = ۶۴۰ - ۷۱۴م)

موسی بن نصیر (رحمه الله) یو مسلمان، هوښیار، تقوی دار او رښتونی رهبر دی، چې الله تعالی (جل جلاله) د ده په واسطه په شمالي افریقا کې اسلام قوي کړ، موسی بن نصیر (رحمه الله) د تابعینو له جملې څخه دی چې د بعضو صحابه کرامو لکه تمیم الداري (رضی الله عنه) په باره کې یې روایت کړی دی.

ابن خلکان د هغه په باره کې وایي چې موسی بن بصیر (رحمه الله) یو هوښیار، شجاع، پرهیزګاره او له الله تعالی (جل جلاله) څخه ویریدونکی انسان ؤ، چې د ده لښکر هېڅکله شکست ندی خوړلی.

د موسی (رحمه الله) پلار نصیر یو نصراني غلام ؤ، چې حضرت خالد ابن ولید (رضی الله عنه) هغه د عین المتر په جنګ کې نیولی ؤ، چې مخکې لدې څخه هغه په یوه کلیسا کې د انجیل او نصرانیت درس لوستلو، خو کله چې د مسلمانانو سره بندي شو، نو د اسلام سره یې پېژندګلوي پیدا کړه او د هغه محبت یې په زړه کې پیدا شو او په داسې حال کې چې دیارلس یا څوارلس کلن ؤ په اسلام مشرف شو، د ده سره پدې وخت کې مشهور تابعي سیرین ابو محمد ابن سیرین هم ملګري ؤ او الله تعالی (جل جلاله) دوی ته هغه فضیلت ورکړ، چې په باره کې یې فرمایي:

(وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ)(فصلت : ۳۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او ښوک دي زيات نېکان د دنيا په اعتبار، د هغو کسانو ښځه چې دعوت يې کړل خلک د الله تعالی (جل جلاله) طرف ته او ښايسته کار يې وکړ او ويې ويل چې بې له شکه، زه له مسلمانانو ښځه يم.
که چېر ته موسی بن نصير (رحمه الله) په هغه حالت کې چې پخوا ؤ، يعنې د هغه پلار په کوم دين ؤ، باقي پاتې شوی وای، نو د هغه لاره به کومه وه؟ ايا دغه مقام چې د جهاد او اسلامي فتوحاتو په اساس الله(جل جلاله) ورته ورکړی ايا دې مقام ته به رسېدلی وای؟ هېڅکله هم نه، خو دا د هغه جهاد ثمره وه، چې په فارس کې تر سره شو او د ده پلار پکې بندي شو، نو خالد ابن وليد (رضی الله عنه) به انشاء الله په دغو ټولو ثوابونو کې شريک وي چې موسی بن نصير(رحمه الله) تر لاسه کړي دي.
نصير چې مسلمان شو، نو د اسلام محبت يې په زړه کې پيدا شو او د علم يادولو ته يې ملا وتړله، تر څو چې عالم شو. همدارنګه ښه قوي مجاهد هم ؤ او هميشه د ترقۍ په حال کې ؤ. تر څو چې د معاويه (رضی الله عنه) په وخت کې سر لښکر شو او تر ډېرې مودې پورې سر لښکر ؤ، موسی ابن نصير (رحمه الله) په هغه وخت کې د معاويه (رضی الله عنه) د اولادې سره او د نورو خلفاوؤ له اولادې سره يو ځای لوی شو، نو د جهاد مينه يې په زړه کې پيدا شوه او د جهاد او د دين د خپريدولو له مينې سره يو ځای ځوان شو او د عبدالعزيز ابن مروان (د عبدالملک ابن مروان ورور ؤ) په زمانه کې په مصر کې د امويانو د لښکر مشر وټاکل شو. چې وروسته بيا په ۸۵ هـ = ۷۰۴ م کال کې د افريقا والي وټاکل شو.
دی پدې وتوانيد، تر څو هغه کار ترسره کړي چې د ده ځخه پخوانيو نه ؤ ترسره کړی، ځکه دی چې کله د افريقا والي وټاکل شو، نو دا کوښښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې شروع کړ، تر څو هغه عوامل پيدا کړي، چې دغه خلک ولې تر مسلمانېدو وروسته بېرته د ارتداد طرف ته ځي. تر ډېر کوښښ وروسته يې هغه عوامل پيدا کړل، چې دغه عوامل په اصل کې د مسلمانانو دوه اشتباهات وو.

اول دا چې عقبه بن نافع (رحمه الله) په ډېره تېزۍ سره هېوادونه فتحه کول او پر مخ تللو، خو شاته يې امن نه ټينګاوه، نو په همدې اساس مسلمانان د شا د طرف نه بېرته محاصره شول او عقبه بن نافع (رحمه الله) هم پکې شهيد شو، خو موسى بن نصير (رحمه الله) چې کله والي شو، نو په ډېر صبر او حوصلې سره يې فتوحات شروع کړل او کوم ځای به يې چې فتحه کړ، نو لومړی به يې لکه د خالد بن وليد (رضى الله عنه) په څير هلته امن او ثبات قائم کړ او بيا به مخکې لاړ او نور ځايونه به يې فتحه کول. نو ځکه موسى بن نصير (رحمه الله) دغه فتحه په شپږو، يا اوو کلونو کې سر ته ورسوله، پداسې حال کې چې عقبه بن نافع (رحمه الله) په څو مياشتو کې دا کار کړی ؤ.

دوهمه اشتباه چې ده ته معلومه شوه، هغه دا وه چې په فتحه شويو سيمو کې خلکو ته د اسلام تعليم او ښوونه په صحيح شکل نه کېده، نو د دې لپاره موسى بن نصير (رحمه الله) د شام او حجاز څخه تابعين علماء راوغوښتل، تر څو خلکو ته تعليم ورکړي، نو هماغه ؤ چې خلک ډلې، ډلې د اسلام په مبارک دين کې داخل شول او د اسلام سپاهيان شول.

موسى بن نصير (رحمه الله) او د اندلس د فتحې مشکلات:

کله چې د افريقا په شمال کې وضع ارامه شوه او مشکلات ختم شول، نو موسى بن نصير (رحمه الله) خپل ځان اماده کړ او د ګاونډي هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندلس د فتحې په فکر کې شو، چې پدې لاره کې د ځينو مشکلاتو سره مخ شو. موږ يې په لاندې ډول بيانوو:

موسى بن نصير (رحمه الله) ټوله شمالي افريقا فتحه کړه، بغير د سبته څخه چې اوس د مراکش يا المغرب هېواد يو ښار دی.

دغه ښار د جبل الطارق تنګي ته مستقيم موقعيت لري او د جبل الطارق تنګی د مراکش او اندلس تر منځ موقعيت لري، دغه تنګي په بعضې ځايونو کې ۱۳ کيلومتره او په بعضې ځايونو کې ۳۷ کيلومتره عرض لري. د دغه تنګي په دواړو خواوو کې دوه لوی بندرونه واقع ؤ، چې يو بندر د المغرب په هېواد کې د سبته په نوم ؤ او بل د اندلس په هېواد کې د طنبحه په نوم ؤ، کله چې د طنبحه بندر فتحه شو، نو پدې خاطر چې دا يو مهم ښار ؤ، موسى بن نصير (رحمه الله) هلته د اسلامي تاريخ يو ډېر مشهور او نوميالی قوماندان طارق ابن زياد (رحمه الله) د والي په حيث مقرر کړ.

طارق ابن زياد (رحمه الله) د بربر قوم او د شمالي افريقا د اصلي اوسيدونکو څخه ؤ، يعنې عرب نه ؤ، کله چې موږ بربر قوم يادوو، کيدای شي د خلکو فکر ته داسې راشي چې د دغه قوم خلک به تور پوستي وي، خو داسې نده، بربريان سپين پوستي دي، ژېړ ويښتان او شنې سترګې لري، يعنې د اروپايانو سره زيات شباهت لري. نو طارق ابن زياد (رحمه الله) په همدې ډول صفات درلودل، يعنې قوي بند، ژېړ ويښتان او ښايسته څيره يې درلوده.

نو طارق ابن زياد (رحمه الله) د طنبحې ښار په خپل لاس کې واخيست. چې د سبتې د ښار سره ډېر نږدې ؤ او د سبتې ښار تر اوسه نه ؤ فتحه شوی. د اندلس د فتحې مفکوره د موسى بن نصير (رحمه الله) د ورځو مفکوره نه وه، بلکې دا يوه پخوانۍ مفکوره وه، يعنې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د عثمان (رضی الله عنه) په زمانه کې د قسطنطيني فتحه د مسلمانانو لپاره سخته تمامه شوه او فتحه نه شوه، تر هغه چې بيا د عثمانيانو په زمانه کې د سلطان محمد الفاتح په لاس فتحه شوه، نو عثمان (رضی الله عنه) ويلي و، چې قسطنطينه بايد دبحر له لارې فتحه شي او که چېرته تاسو اندلس فتحه کړ، نو د هغو کسانو سره به په اجر کې شريک ياست، چې قسطنطينه فتحه کوي.

د عثمان (رضی الله عنه) مقصد دا ؤ، چې مسلمانان اول اندلس فتحه کړي، وروسته قسطنيطينه، يعنې قسطنطينه بايد د غرب له لارې فتحه شي، نه د شرق له لارې. ولې مسلمانان تر اوسه پورې، يعنې د موسی بن نصير (رحمه الله) تر وخته پورې اندلس ته ونه شول رسېدلای.

لومړی مشکل چې موسی بن نصير (رحمه الله) د اندلس په فتحه کې ورسره مخ شو، هغه د کښتيو کموالی ؤ. موسی بن نصير (رحمه الله) معلومه کړه چې د المغرب او اندلس ترمنځ فاصله د ديارلس کيلو مترو څخه کمه نده او کافي کشتی هم ورسره نشته، تر څو له دغو اوبو څخه تېر شي، ځکه د مسلمانانو اکثره جنګونه بغير د بعضو فتحو څخه، نور ټول په وچه کې تر سره شوي وو، نو ځکه مسلمانانو کښتيو ته ډير ضرورت نه ؤ پيدا کړی، خو اوس کښتيو ته ډېر ضرورت پيدا شو، تر څو د اسلام غازيان له اوبو څخه پرې تېر شي او اندلس ته ځان ورسوي.

دوهم مشکل دا ؤ چې کله مسلمانان اندلس ته داخليدل، نو شاته يې د نصرانيانو ځينې ټاپوګان پاتې کېدل، چې د بليار په نامه ياديدل او درې مهم ټاپوګان يې عبارت دي، له ميروقه، منروقه او يابسه څخه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چې مسلمانان اندلس ته داخل شوي وای، نو د دې تاپوګانو څخه به ورته خطر متوجه کېده.

دریيم مشکل دا ؤ چې د سبتې بندر د جبل الطارق په تنګۍ کې موقعیت لري، د نصرانیانو په واک کې ؤ، چې د اندلس د پادشاهانو سره یې ارتباط درلود. د سبتې بندر چې د شمالي افریقا د فتحې سره فتحه شوی نه ؤ، د یو نصراني کس په لاس کې ؤ، چې یلیان یا جولیان نومیده او د اندلس د پخواني بادشاه غیطشه سره یې نیک ارتباط درلوده.

غیطشه هغه څوک ؤ چې لذریق یا رودریک وربانديې کودتا کړې وه او واک یې ترې نیولی ؤ، نو موسی بن نصیر (رحمه الله) پدې ویره کې ؤ، چې هسې نه یلیان، چې د مسلمانانو تر شا پاتې کېږي، له شا څخه په مسلمانانو حمله وکړي، سره د دې چې یلیان د لذریق سره مخالفت هم درلود، خو بیا هم ممکنه وه، چې لذریق ځینې مادیات ورکړي او یا د نورو عواملو په اساس یې د موسی بن نصیر مخالفت ته اماده کړي.

څلورم مشکل دا ؤ چې د مسلمانانو د لښکرو تعداد کم ؤ، ځکه د موسی بن نصیر (رحمه الله) سره چې کوم فاتح لښکر له شام او عربو څخه راغلی ؤ، ډېر محدود ؤ او هغه هم د شمالي افریقا په مختلفو سیمو کې خپور شوي ؤ. نو ځکه موسی بن نصیر (رحمه الله) نه شوای کولای چې د دې محدود لښکر په واسطه د اندلس فتحه سر ته ورسوي او همدارنګه د دې ویره هم وه، که چېرته د شمالي افریقا څخه د مسلمانانو لښکر راوباسي او هغه د مسلمانانو د لښکر له حمایت څخه خالي پرېږدي، نو د دې امکان هم شته چې د شمالي افریقا خلک بغاوت وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پینځم مشکل چې موسی بن نصیر (رحمه الله) ورسره مخ ؤ، دا ؤ چې د نصاراوو سره لښکر او وسایل زیات وو او د دې سره سره هغوی په خپل هېواد کې وو، له هرې خوا څخه مضبوط او قوي وو، ځکه ټولې کلاگانې د هغوی په واک کې وې.
شپږم مشکل دا ؤ چې مسلمانانو یو داسې هېواد ته مخه کړې وه، چې له له جغرافیه سره یې هېڅ بلد نه وو.

**له مشکلاتو سره مبارزه:**

د دې ټولو مشکلاتو سره سره موسی بن نصیر (رحمه الله) د اندلس د فتحې په لاره کې تنبلي ونکړه، ټول امور یې ترتیب او تنظیم کړل او په ډېر صبر او ثبات سره یې د هغې په عملي کولو باندې شروع وکړه.
موسی بن نصیر (رحمه الله) پدې طریقه د مشکلاتو د حل لپاره اقدام وکړ، تر ټولو وړاندې د کښتیو جوړولو ته پام وکړ، ځکه پرته له کښتیو له دومره لوی سیند څخه تېرېدل، شوني نه وو. دغه کار یې په ۸۷ یا ۸۸ هـ کې شروع کړ او اول یې یو لوی بندر جوړ کړ، تر څو د کښتیو د جوړولو لپاره ترې کار واخلي، دا بندر د شمالي افریقا په ساحل کې دوهم بندر ؤ چې جوړ شو.
دوهم کار یې دا وکړ چې بربریانو ته یې د اسلام د دین تعلیم ورکړ، تر دې چې د اسلام نظامي قوه یې د بربریانو څخه جوړه کړه. دغه کار که څېرته ناممکن نه وي، نو سخت خامخا دی، چې په کفارو کې یې دغه کار پیدا کړ. ځکه هغه قوم چې تر اوسه د مسلمانانو سره د جنګ په ډګر کې ؤ، اوس د اسلام او مسلمانانو مدافعین شول او دغه کار غیر د مسلمانانو څخه د نورو خلکو سره تکرار شوی ندی. د مثال په ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسې یو سل او دیرش کاله په الجزایر حکومت وکړ، خو د الجزایر خلک تر اوسه هم مسلمانان دي.

موسی بن نصیر (رحمه الله) بربریانو ته اسلام عقیدتاً او عملاً وروښود او په هغوی کې یې د جهاد سره مینه او د الله تعالی (جل جلاله) په لاره کې د قربانۍ سره مینه پیدا کړه، نو ځکه د مسلمانانو د لښکر زیاته برخه د بربر قوم څخه جوړه شوه او سر لښکر پدې خاطر چې د ټول لښکر مخکښ وي، نو ځکه یې یو داسې شخص د دغه لښکر مشر وټاکه، چې هوښیار، تقوی دار او ریښتونی ؤ او هم یې جنګي پوهه او د جهاد او د الله تعالی (جل جلاله) په لاره کې د شهید کېدلو سره مینه درلوده.

دغه کس طارق ابن زیاد (رحمه الله) (۵۰-۱۰۲هـ= ۶۷۰ – ۷۲۰ م ) ؤ، طارق بن زیاد رحمه الله عرب نه ؤ، بلکې د بربر قوم څخه ؤ.

موسی بن نصیر (رحمه الله) هغه ته پر عرب لومړیتوب ورکړ، ځکه چې تقوی او جنګي پوهه یې درلودله. دغه کار د دې ښکارندوی دی، چې د اسلام مبارک دین قوم او قبیلې ته اهمیت نه ورکوي، بلکې تقوی او پرهیزګارۍ ته اهمیت ورکوي. یعنې د اسلام مبارک دین د یوې قبیلې او قوم لپاره ندی، بلکې د ټولو انسانانو او پیریانو لپاره دی، چې الله تعالی (جل جلاله) فرمایي:

(وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ) (الانبیاء: ۱۰۷).

ژباړه: ای محمده (صلی الله علیه وسلم) ! مونږ چې ته لیږلی یې، دا په اصل کې د نړیوالو په باب زمونږ رحمت دی. (مونږ د ټولو مخلوقاتو لپاره ته رحمت لیږلی یې).

د طارق بن زیاد (رحمه الله) پوهه او د رهبرۍ قوت معلوم ؤ او کولای یې شول چې خپل قوم په ښه شکل سره رهبري کړي او همدارنګه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل خان او خپل قوم لپاره يې کوم مقصد نه درلود، لکه څنګه چې د بربر قوم څخه ؤ، نو په بربري ژبه باندې پوهيده او عربي يې هم ښه روانه ويلای شوه.

نو مصلحت همدا ؤ چې د لښکر مشر دې وټاکل شي.

دريم کار چې موسی بن نصير (رحمه الله) تر سره کړ، هغه د بليار د ټاپوګانو فتحه کول او د مسلمانانو د خاورې سره يو ځای کول ؤ او پدې سره يې خپله شا د شرق په طرف کې خوندي کړه، چې دا د موسی بن نصير (رحمه الله) په جنګې پوهه او لياقت باندې دلالت کوي.

ليکن د سبتې مشکل لا هم په خپل حال پاتې ؤ. خو د الله تعالی (جل جلاله) تدبير ته وګورئ.

(وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ) (الانفال ۱۷)

ژباړه: او تا ونه ويشتل، بلکې الله وويشتل (او د مؤمنانو لاس چې په دې کار کې په کار واچول شو) نو داددې لپاره ؤ چې الله جل جلالهٗ مؤمنان له يوې ډېرې ښې ازموينې څخه په برې سره تېر کړي، په باوري توګه الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی.

دغه واقعه په دې ډول وه چې کله يليان وليدل، چې د مسلمانانو قوت ورځ په ورځ زياتېږي او که چېرته يې په ده حمله وکړه، نو دی يې مقابله نه شي کولای. همدارنګه يليان د اندلس د حاکم لذريق سره دښمني لرله، څکه لذريق د اندلس پخوانی بادشاه غيطشه وژلی ؤ او د هغه زامن د يليان سره يو ځای شوي وو، تر څو د ده په کومک د لذريق څخه بېرته حکومت ونيسي، خو نه د يليان او نه د غيطشه د زامنو په هغه زور رسېده او که پدې حال کې مسلمانانو په يليان حمله کړې وای او د بسته بندر يې ترې نيولی وای، نو يليان د تينښتې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای هم نه درلود. همدارنګه یلیان غوښتل چې د لذریق څخه هغه ځایونه بېرته ونیسي، چې د غیطشه څخه یې نیولې وو او هغه د غیطشه زامنو ته حواله کړي. لذریق په خلکو باندې زیاته مالیه مقرر کړې وه او په خلکو یې ظلمونه کول نو خلک هم ترې په تنګ شوي وو او غوښتل یې چې د ده څخه خلاصی ومومي، نو الله تعالی (جل جلاله) د مسلمانانو مرسته وکړه او د همدغو فکرونو په اساس یلیان د طنجې والي ته چې پدې وخت کې طارق ابن زیاد (رحمه الله) ؤ، د سولې خبر ولېږه او د سولې لپاره یې ډېر عجیبه او حیرانوونکي شرایط ایښي وو، چې پدې ډول وو:

اول: د سبتې بندرګاه تاسو ته تسلیموم، تر څو له دې لارې له اوبو څخه تېر شئ. دا یوه داسې مسئله وه چې حل یې د مسلمانانو له قدرت څخه پوره نه ؤ، خو الله تعالی (جل جلاله) د مسلمانانو کومک وکړ.

دوهم: تاسو سره د څو کښتیو کومک هم کوم، تر څو د هغې په واسطه له اوبو څخه تېر شئ.

دریېم: تاسو ته د اندلس د جغرافیې په باره کې پوره معلومات درکوم او د دې په مقابل کې هغه کومې ځمکې او اموال چې د غیطشه له اولادې څخه لذریق اخیستي دي، هغه بېرته دوی ته حواله کړئ، چې دا د مسلمانانو لپاره یو ډېر ښه وړاندیز ؤ او د همدې وړاندیز په اساس سره یلیان غوښتل، تر څو مسلمانان له سبته څخه لاس واخلي او د اندلس په لور متوجه شي. نو دا د ډېر قیمت په ورکولو سره، د لږ څه غوښتلو وړاندیز ؤ، چې یلیان کړی و.

مسلمانانو خو یوه ورځ هم د غنیمتونو او مال فکر نه ؤ کړی او د هغو مالونو چې غیطشه، یلیان یا لذریق یا نور یې مالکین ؤ، مسلمانانو ورته کوم رغبت نه درلود، د مسلمانانو هدف صرف او صرف د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دين خپرول وو، نو که هغوی په اسلام کې داخل شوي وای، څه حقوق چې د مسلمانانو وو، د هغوی به هم وو او که جزيه يې په ځان منلې وای، نو بيا هم هغوی د خپلو مالونو خاوندان شمېر کېدل.

نو د دې وړانديز قيمت د مسلمانانو لپاره ډېر کم ؤ، نو ځکه طارق ابن زياد (رحمه الله) موسی بن نصير (رحمه الله) ته خبر ورکړ، موسی بن نصير (رحمه الله) پدې وخت کې په قيروان کې ؤ، ځکه قيروان هغه وخت د شمالي افريقا پايتخت ؤ، د دې وړانديز څخه چې خبر شو، نو ډېر زيات خوشحاله شو او بيا يې دغه خبر خليفه وليد بن عبدالملک ته ولېږه او د هغه څخه يې د اندلس د فتحې اجازه وغوښتله.

وليد بن عبدالملک ورته اجازه ورکړه، خو پدې شرط، چې موسی بن نصير بايد د خپل تګ څخه د مخه د مسلمانانو يوه سريه اندلس ته ولېږي، تر څو معلومات وکړي، ايا يليان چې دوی ته کوم معلومات ورکوي، هغه صحيح دي او که غلط؟ ځکه د دې ضمانت څوک ورکوي چې يليان به په خپل تړون کې خيانت نه کوي او په مسلمانانو به د شا له طرفه حمله نه کوي؟

د مسلمانانو اوله سريه چې د اندلس په طرف لاړه، هغه د طريف بن مالک سريه وه، چې په يو بل روايت کې طريف بن ملوک په نوم ياد شوی او پدې سريه کې پينځه سوه نفره وو. طريف بن مالک هم لکه د طارق ابن زياد (رحمه الله) په شان د بربر قوم څخه ؤ او يو وخت د مسلمانانو پر ضد جنګيده، خو اوس د اسلامي لښکر سر لښکر ؤ او غوښتل يې چې اسلام د نړۍ کنجونو ته ورسوي.

طريف بن مالک د پينځه سوه نفرو سره د اندلس په لور حرکت وکړ او د رمضان په مبارکه مياشت ۹۱ هـ کال = ۷۱۰ م کې هلته ورسېد او د اندلس د جنوبي برخې په باره کې يې پوره معلومات حاصل کړل، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اسلامي لښکرې به همدلته راتللې، چې دغه ځای وروسته د همدغه سر لښکر په نامه یاد شو.
کله یې چې معلومات حاصل کړل، نو بېرته راغلل او موسی بن نصیر (رحمه الله) ته یې پوره پوره معلومات ورکړل.
موسی بن نصیر (رحمه الله) د یو کال په موده کې اووه زره مجاهدین اماده کړل او د هغو مشر یې طارق ابن زیاد (رحمه الله) وټاکه. دغه لښکر په کال ۹۲ هـ کې، د شعبان په میاشت کې حرکت وکړ او د جبل الطارق له تنګۍ څخه تېر شول، چې دغه تنګی تر اوسه پورې او حتی په هسپانوي ژبه کې هم د جبل الطارق د تنګۍ په نوم مشهور دی.
څکه په اول کې اسلامي لښکر همدغو غرونو ته ورسېد او کله چې د دغو غرونو څخه تېر شول، نو یوې پراخې منطقې ته چې د خضراء ټاپو په نوم یادیده ورسېدل او هلته یې د نصاراوو د لښکر سره چې د دغې سیمې ساتونکي وو مقابله راغله، خو دا دومره لوی لښکر نه ؤ. نو د معمول سره سم طارق ابن زیاد ورته هماغه درې وړاندیزونه وکړل، چې اسلام، جزیه او جنګ دی، هغوی غرور وکړ او جنګ یې غوره کړ. کله چې د دواړو خواوو تر منځ جنګ ونښت، نو طارق ابن زیاد (رحمه الله) سوبه وکړه. تدمیر چې د دغه واړه لښکر مشر ؤ، په ډېره تیزۍ سره د طلیطلې په لور، چې هغه وخت د اندلس پایتخت ؤ. ولاړ او هلته یې لذریق ته وویل: مونږ سره کومک وکړه، ځکه چې داسې خلک راباندې مسلط شوي، چې نه پوهیږو د ځمکې مخلوق دی او که د اسمان؟ انسانان دي او که پیریان، له مرګ څخه هیڅ وېره نه لري او پر مونږ داسې راځي، لکه زمری چې په هوسیو راځي.
هغوی داخبرې څکه کولې، چې له داسې مخلوق سره مخ شوي وو، چې د چا د مال او دولت سره یې کار نه ؤ، بلکې که چا به د هغوی دین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومانه، نو بیا به هم د خپل پخوانې مال مالک حسابیده او که جزیه به بې په ځان منله. هم د پخوانې مال مالکین حسابیدل. بلکې دغه لښکر به بیا د دوی حمایت هم کاوه. چې داسې وعده دوی ته په خپل ژوند کې نه وه ورکړل شوې او په جنګ کې هم دغه خلک پداسې شکل جنګیدل. لکه ټول عمر یې چې په جنګ کې تېر شوي وي او په شپه کې به یې پداسې طریقه عبادت کاوه. لکه چې راهبان وي.
لذریق چې کله دا خبر واوریده. نو لیونتوب پرې راغی او په ډېر غرور سره یې یو لوی لښکر برابر کړ. چې تعداد یې یو لک سپرو ته رسېده او د شمال څخه جنوب ته د مسلمانانو د لښکر په لور روان شول.
طارق ابن زیاد(رحمه الله) صرف اووه زره لښکر درلود. چې تر ډېره یکې پلي وو او لږ تعداد یې سواره وو. پدې وخت کې طارق بن زیاد (رحمه الله) موسی بن نصیر ته خبر ولېږه او له هغه څخه یې د کومک غوښتنه وکړه. موسی بن نصیر(رحمه الله) پینځه زره پلي فوج د طریف بن مالک په مشرۍ د کومک لپاره ورولېږه.
د طریف بن مالک د فوج په رسېدلو سره د مسلمانانو د فوج تعداد دولس زرو ته ورسېد. طارق بن زیاد(رحمه الله) د جنګ لپاره تیاری پیل کړ. په اول سر کې د جګړې لپاره د یو مناسب ځای په لټه کې شو او یو ځای ته چې د برباط یا لقه دره نومېدله ورسېدل او دا ځای د جنګ لپاره ډېر مناسب ځای ؤ. ځکه چې شا او ښي طرف ته یې غرؤ، نو پدې صورت طارق ابن زیاد (رحمه الله) خپله شا او ښي طرف خوندي کړ او چا نه شوای کولای چې هغوی محاصره کړي.
جنوب طرف ته یې لویه بحیره وه. چې له هغه طرف څخه هم پوره امن ؤ او د دغې درې په جنوبي دروازه کې یې یوه قوي ډله د طریف بن مالک په مشرۍ مؤظفه کړه. تر څو له دې طرفه په بې خبرۍ کې راګیر نه شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې شکل طارق ابن زیاد (رحمه الله) وکولای شول چې د نصاراوو لښکر له مقابل لوري څخه دغې درې ته راکش کړي او هېڅ ونه شوای کولای، چې دوی له بل طرف څخه محاصره کړي
لذریق په ډېر تکبر، غرور او سرشارۍ سره د خپل یو لک لښکر سره راغی، پخپله لذریق زرین تاج په سر کړی ؤ او خپل تخت یې په دوه کچرو بار کړی ؤ او هم یې د خپل ځان سره زیاتې رسۍ ګانې راوړې وې، د دې لپاره چې کله مسلمانانو ته شکست ورکړي، نو هغوی به پدې رسیو باندې وتړي او د خپل ځان سره به یې د غلامانو په شکل بوځي. لذریق داسې غرور لرونکی فکر کاوه، لکه جنګ یې چې ګټلی وي او د هغه په فکر سره دولس زره لښکر د ده د یو لک لښکر په مقابل کې، چې په خپل هېواد کې هم وو، هېڅ نه ؤ او دوی د هغه په فکر شفقت او زړه سوي ته احتیاج وو؛ خو د دغو دواړو ډلو وګړي د الله تعالی (جل جلاله) د دین په سر په خپلو کې دښمنان وو، د دوی جنګ د حق او باطل جنګ و، د دوی مقابله د توحید د کلمې په سر وه.
الله جل جلالهُ وایي:

[خَصۡمَانِ ٱخۡتَصَمُواْ فِي رَبِّهِمۡۖ ... ](الحج ۱۹)

ژباړه: دغه دوه ډلې د یو بل دښمنان دي او دښمني کوي دوی د الله جل جلالهُ په ذات باندې

نو په هغه ډله باندې زړه سوی او شفقت په کار ؤ، چې د الله تعالی (جل جلاله) د دین په مقابل کې جنګیدل. ځکه مسلمانان په ډېر شوق او جذبه دغه جنګ ته راغلي وو او هر قسم قربانۍ ته اماده وو، له بلې خوا کفار په زور سره دغه جنګ ته راوستل شوي وو. نو د دې دواړو ډلو تر منځ لوی فرق موجود ؤ، ځکه چې یوه ډله هېڅ د مرګ څخه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاریدله او د الله تعالی (جل جلاله) په لاره کې مرګ د دوی لپاره یو لوی ارمان ؤ او بله ډله چې د کفارو وه، د هغوی لپاره د لوی څخه لوی ارمان د خپل مال او خاورې ساتل و.

## د برباط دره او د رمضان مبارکه میاشت:

دغه جنګ د رمضان په مبارک میاشت کې شروع شو، په هغه میاشت کې چې نوم یې د جګړو او فتوحاتو سره ارتباط لري، ولې متاسفانه اوس دغه میاشت د ډرامو، فلمونو، بدو او فاحشو شیانو په مسابقو بدله شوېده، د دغې میاشتې په شپو کې بیداري او د ورځې خوبونه کول، د قران لوستلو او تهجدو لپاره نه، بلکې دنورو بې کاره او ناروا کارونو لپاره، په داسې حال کې چې دغه میاشت د جهادونو میاشت وه، په همدغه میاشت کې مسلمانان د اندلس خاورې ته داخل شوي وو، په کومه ورځ چې داخل شوي وو، د رمضان د میاشتې ۲۸ ورځ وه، یعنې د کوچنې اختر څخه دوه ورځې مخکې، په ۹۲ هـ کال کې دغه جګړه ونښته، د مسلمانانو او عیسایانو ترمنځ د شدیدو جنګونو له جملې څخه، یو سخت او شدید جنګ همدغه جنګ دی، د نصاراوو دفوجونو څپې په مسلمانانو لکه د طوفاني سمندر راغلې، خو مسلمانان د هغوی په مقابل کې ثابت قدمه پاتې شول.

(مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَیْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰی نَحْبَهٗ وَ مِنْهُمْ مَّنْ یَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِیْلًا) (الاحزاب: ۲۳).

ژباړه: له مؤمنانو څخه ځینې داسې شخصیتونه شته چې هغوې له الله سره کړې ژمنه رښتیا کړې ده، له هغو نه چا خپل نذر پوره کړ او څوک دوخت راتلو ته انتظار باسي. هغوې پخپله کړنلاره کې هیڅ تبدیلي رانه وستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې وضع باندې جنګ ۸ ورځې ادامه وکړه او وروسته له هغه چې الله تعالی د مسلمانانو صبر او ربښتینولي وازمایله، بیا یې فتحه ورته په نصیب کړه، لذریق په دغه جنګ کې ووژل شو او په یو بل روایت کې د شمال په لور وتښتېد، خو د دې څخه وروسته د هغه ذکر او نوم چېرته نه دی یاد شوی او اندلس د اسلام د تاریخ سره د ژوند یوه نوې صفحه پرانیستله، مسلمانانو په دغه جنګ کې زیات غنیمتونه ترلاسه کړل، چې زیات پکې اسونه وو او هغه مسلمانان چې پلي وو، ټول سواره شول؛ د مسلمانانو څخه هم درې زره مجاهدین په شهادت ورسېدل.

د اسلام مبارک دین دومره په اسانۍ سره مونږ او نورو خلکو ته ندی رارسېدلی، بلکې د شیهدانو په قیمتي وینو تویولو او د سرونو په شیندلو سره رارسېدلی دی.

**طارق بن زیاد(رحمه الله) او د کښتیو د سوځولو موضوع:**

برباط درې ته تر تللو مخکې، یوه مهمه موضوع چې د مسلمانانو په تاریخونو کې په عام ډول او د اروپایانو په تاریخونو کې په خاص ډول شهرت لري رامنځته شوې وه، هغه د طارق ابن زیاد (رحمه الله) له خوا د کښتیو سوځولو موضوع وه.

هر کله چې مسلمانان له اوبو څخه د اندلس طرف ته ورسېدل او په ساحل کې کېوتل، نو طارق ابن زیاد (رحمه الله) ټولې هغه کښتۍ ګانې وسوځولې، چې اندلس ته پکې راغلي وو، تر څو مسلمانان جنګ ته تشویق کړي او هغوی ته یې وویل: مخې ته مو د دښمن فوځونه او شا ته مو سمندر دی، د تېښتې هېڅ لاره نشته، پرته له دې چې د خپلو تورو جوهر ښکاره کړئ، بله لاره نه لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې مؤرخین دا پېښه حقیقت ګڼي او ځینې نور پکې خبره کوي، ولې حقیقت دا دی چې دغه خبره باطله ده او د لاندې اسبابو په اساس د مسلمانانو تاریخ ته داخله شوېده.

اول: پدې روایت باندې په اسلامي تاریخ کې صحیح سند موجود ندی، ځکه صحیح روایات باید د رښتینو خلکو څخه لاسته راغلي وي او دغه روایت د رښتینو او صادقو خلکو له روایاتو څخه ندې تر لاسه شوي، بلکې د اروپایانو له لیکنو څخه تر لاسه شوي، چې د برباط درې د جنګ په باره کې یې لیکلي دي.

دوهم: که چېرته طارق ابن زیاد (رحمه الله) کښتیو ته اور اچولای وای، نو حتماً به د موسی بن نصیر (رحمه الله) او یا ولید بن عبدالملک له خوا ورڅخه د دې کار پوښتنه کېده، په داسې حال کې چې داسې محاوره هېڅ نشته، چې د دوی تر منځ په دې اړه شوې وي او یا به هم د خلیفه ولید څخه نورو اسلامي علماوو پدې اړه پوښتنې کولای، چې د کښتیو سوځول جواز لري او که نه؟ خو پدې اړه هم هېڅ عکس العمل نشته.

دریم: اروپایان پدې اړه ندي توانیدلي چې دا خبره تغیر کړي، چې څرنګه دولس زره پیاده پوځ، سل زره سواره پوځ باندې چې د خپل وطن څخه لیرې هم وو، غلبه ومونده؟ نو ځکه یې دغه موضوع راواخیسته چې طارق بن زیاد کښتۍ وسوځولې، د دې لپاره چې مسلمانان جنګ ته مجبور کړي، ځکه که شاته ځي، نو د تېښتې لاره خو نه لري او مرګ یې حتمي دی، نو مجبور وو چې قوي جنګ وکړي، تر څو فتحه حاصله کړي او که کښتۍ ګانې یې سوځولې نه وای، نو بیا خو ورته د تېښتې شرایط برابر وو او په اسانۍ سره تښتېدلای شول، خو اروپایان د دې پوهې څخه عاجز دي، چې الله تعالی فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ ۝ وَمَن يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَاءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ۝). (الانفال).

ژباړه: ای مؤمنانو کله چې یو ځای شئ. تاسې له کافرانو سره. په داسې حال کې چې دوی ګڼ وي، نو مه ګرځوئ تاسې دغو کفارو ته شاوې خپلې او هر هغه چې وګرځوي کفارو ته شا خپله. خو په داسې حال کې چې بېرته ګرځېدونکی وي له پاره د جنګ. یا حال دا چې یو ځای کېدونکی وي. په طرف د بلې ډلې. نو په تحقیق سره رجوع یې وکړه او اخته شو په غضب د الله جل جلالهُ او ځای د اوسیدلو د ده دوزخ دی او بد ځای د ورتللو دی دغه دوزخ.

نو پدې ځای کې د جنګ له میدان څخه. د مسلمانانو شاتګ احتمال درلود او د (محترفا) کلمه جنګ ته د دوباره امادګۍ په خاطر راغلې ده او د (متحیزا) کلمه د نورو مسلمانانو سره د یو ځای کیدو په خاطر راغلې ده او د مسلمانانو ډله په المغرب یا مراکش کې وه. نو طارق ابن زیاد (رحمه الله) ولې په ځان دوباره اماده ګي قطع کوله؟ نو د کښتیو د سوځولو خبره یو تېری او تجاوز دی، چې د طارق ابن زیاد (رحمه الله) په شخصیت باندې خلکو کړی دی.

څلورم: او اخرین رد په دغه روایت باندې دا دی. چې طارق بن زیاد (رحمه الله) د ټولو کښتیو مالک نه ؤ. بلکې ځینې کښتۍ ګانې د یلیان یعنې د سبتې د حاکم وې، چې دوی ته یې ورکړې وې، تر څو د اوبو څخه پرې تېر شي او بېرته یې هغوی ته وسپاري، تر څو پخپله یلیان پرې د اندلس لورې ته تېر شي، لکه څنګه مو چې پدې باره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضاحت کړی دی، نو پدې اساس طارق بن زیاد (رحمه الله) د دغو کښتیو د سوځولو حق نه درلود.

نو ټولو دلایلو ته په کتو سره ویلای شو، چې د کښتیو د سوځولو خبره دروغ ده او هیڅ حقیقت نه لري او د دې لپاره جوړه شوې، تر څو د مسلمانانو په شان تېری وکړي.

د برباط د درې له جنګ څخه وروسته طارق بن زیاد (رحمه الله) ته معلومه شوه، چې دا بهترین وخت دی، تر څو داندلس فتحه تکمیله شي او د دې لپاره د ډېرو خسارو او تاوانونو ته ضرورت نه پېښېږي.

د دې خبرې ثبوت لپاره لاندې څو دلایل وړاندې کوو:

۱. د دولس زرو نفرو بریالي کېدل، په یو لک نفرو باندې، داسې یوه فتحه وه، چې د اندلس په خلکو یې د مسلمانانو تاثیر وغورځاوه.

۲. د یو قوي شکست په خوړلو سره د نصاراوو معنوي قوت له منځه تللی ؤ.

۳. د معنوي قوت له منځه تللو سره سره، د هغوی زیات تعداد فوجونه وژل شوي وو، نو مادي قوت یې هم کمزوری شوی ؤ.

۴. طارق ابن زیاد (رحمه الله) ته معلومه شوه، چې د لذریق لرې والی د خلکو څخه د دې لپاره ښه فرصت دی، تر څو د اسلام تعلیم خلکو ته ورکړای شي، ځکه خلکو د هغه څخه نفرت کاوه او د اسلام په مبارک دین کې داخلیدو ته نږدې وو.

۵. طارق ابن زیاد (رحمه الله) د سبتې په والي یلیان باندې باور نه درلود، ځکه چې په آینده کې د خپل تعهد څخه ونه ګرځي، نو پدې خاطر یې د اندلس د فتحې تکمیلول ضروري وګڼل، ځکه یې خپل لښکر له ځان سره واخیست او د اندلس د باقي ښارونو د فتحه کولو لپاره د شمال په لور روان شو، په لومړي سر کې د اشبیلې د ښار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرف روان شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث شریف په دغه ځای کې هم تحقق پیدا کړ چې فرمایي: ((عن جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ. بخاري

ژباړه: دجابر بن عبدالله (رضی الله عنه) څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ما سره مرسته وشوه، داچې زما رعب پرېوت پر دښمنانو باندې د یوې میاشتې په فاصله کې زه بریالی شوم.

(یعني الله تعالی (جل جلاله) زما پر دشمنانو باندې د یوې میاشتې په فاصله کې زما رعب غورځولی و.

نو د اشبیلې ښار ته د مسلمانانو د رسېدلو سره سم د اشبیلې اوسیدونکو، د ښار دروازې خلاصې کړې او جزیه یې قبوله کړه.

**په اسلام کې جزیه:**

د مسلمانانو له خوا چې کفار د ځان او مال خوندي ساتلو په بدل کې کوم مال یا روپۍ ورکوي، هغې ته جزیه وایي، چې په عام ډول په اهل کتابو او د بعضو فقهاوو په قول سره په مجوسیانو او مشرکینو باندې هم ایښودل کیدای شي او د هغې په مقابل کې مسلمانان د هغوی څخه دفاع کوي. که چېرته مسلمانانو د هغوی څخه دفاع ونه شوای کولای، جزیه بېرته ورکوي، چې د اسلام په تاریخ کې داسې شوي دي.

جزیه له سړیو څخه اخیستل کېږي، له ښځو نه اخیستل کېږي، له بالغانو څخه اخیستل کېږي، له وړو څخه نه اخیستل کېږي، له مالدارو څخه اخیستل کېږي او له فقیرانو څخه نه اخیستل کېږي، همدارنګه له صحتمندو څخه اخیستل کېږي او له مریضانو څخه نه اخیستل کېږي بلکې فقیر اهل کتاب، مجوسیان او مشرکین، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته د مسلمانانو په حکومت کې اوسېږي، نو د مسلمانانو د بیت المال څخه دوی ته هم مال ورکول کېږي، په همدې ډول جزیه د هغو کسانو څخه اخیستل کېږي، چې د جنګ قدرت ولري او له هغو کسانو څخه چې په جنګ قادر وي، خو خپل ځان یې د عبادت لپاره وقف کړی وي.

جزیه د زکات په مقابل کې ده، چې له مسلمانانو څخه اخیستل کېږي، بلکې له زکات څخه زیاته کمه ده.

د اندلس د فتحې په زمانه کې د جزیې مقدار په یو کال کې یو دینار ؤ او زکات د مسلمانانو د ټول مال دوه نیم فیصده برخه وه، په هر کال کې چې دوی به پس انداز کړی ؤ، نو زکات نسبت جزیې ته زیات دی او زکات هم په مسلمانانو باندې هغه وخت فرض کېږي، کله چې مسلمان شي او یو کس هغه وخت د جزیې څخه معاف کېږي، کله چې مسلمان شي او که چېرته دغه کس د مسلمانانو سره په جنګ کې حصه ونیسي، نو ده ته هم پکې حصه ورکول کېږي.

جزیه نسبت ټکس ته هم کمه ده، هغه چې خپل حاکمان یې پر دوی ټاکي، ځکه ټکس شل فیصده، دیرش فیصده او یا څلویښت فیصده ټاکل کېږي، خو جزیه د دې په مقابل کې ډېره کمه ده، حتی زکات هم د دې ټکس په مقابل کې د هېڅ برابر دی، ځکه زکات یوازې دوه نیم فیصده دی.

لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي. چې اهل کتاب د هغوی د توان څخه زیات مه مکلف کوئ.

نو د اسلام مبارک دین هغوی لپاره رحمت ؤ او د ډېر کم مال په مقابل کې یې د هغوی دفاع کوله.

اقول قولی هذا واستغفرالله لی ولکم وجزاکم الله خیرا کثیرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم درس

ان الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره و نومن به ونتوکل علیه و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سیئات اعمالنا انه من یهد الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادي له و اشهد ان لا اله الا الله وحد لا شریک له و اشهد ان محمد عبده و رسوله.

په تیر درس کې مو پدې باندې بحث وکړ، چې مسلمانان په څه ډول اندلس ته ولاړل او څه ډول یې په دولس زره پیاده لښکر باندې د نصاراوو یو لک سواره لښکر ته ماتې ورکړه او همدارنګه د اشبیلې ښار چې یو لوی ښار ؤ او قوي ښار پناه او دیوال یې درلود، څرنګه مسلمانانو ته تسلیم شو او اوسیدونکي یې جزیې ورکولو ته اماده شول

د اشبیلې د فتحې څخه وروسته طارق ابن زیاد (رحمه الله) د سبتې د ښار په لور روان شو، دغه ښار د اندلس په جنوب کې واقع دی، په دغه ښار کې هم یو قوي جنګ وشو، خو نصارا مات شول او دغه ښار هم مسلمانانو فتحه کړ.

د سبتي د فتحې څخه وروسته طارق ابن زیاد (رحمه الله) یو عجیبه کار وکړ، څکه د مسلمانانو شمیر په دغه وخت کې نهه زره تنه وو، خو طارق ابن زیاد (رحمه الله) د اندلس مختلفو ښارونو ته سر یې ولیږلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه سریه یې د قرطبې ښار ته ولیږله، بله یې د غرناطې ښار ته ولیږله، بله یې د مالقې ښار ته او بله یې هم د مرسیې ښار ته ولیږله، چې دغه ټول ښارونه د اندلس په جنوب کې واقع دي.

خو پخپله طارق ابن زیاد (رحمه الله) د باقي پاتې لښکر سره د طلیطلې د ښار په لور چې هغه وخت د اندلس پایتخت ؤ روان شو.

طارق ابن زیاد (رحمه الله) چې کومې سریې لیږلې وې، د هرې یوې تعداد یې د اوو سوو نفرو څخه زیات نه ؤ، خو له دې کمښت سره سره الله تعالی (جل جلاله) ټولو ته فتحه ورکړه.

طارق ابن زیاد (رحمه الله) چې پخپله د باقي فوځ سره د شمال په لور تللی ؤ، په لاره کې د جیان په نوم یو مستحکم ښار ؤ، هغه یې فتحه کړ، موسی بن نصیر (رحمه الله) طارق ابن زیاد (رحمه الله) ته ویلي وو، چې د جیان څخه مخکې مه ځه او د طلیطلې په فتحه کې عجله مه کوه، ځکه چې هلته له رسېدو سره عیسویان د مسلمانانو دغه وړوکی نهه زره نفري لښکر محاصره نه کړي، خو طارق ابن زیاد (رحمه الله) لاره صافه ولیدله او دا ورته معلومه شوه، چې په لاره کې د عیسویانو کوم لښکر وجود نه لري، همدارنګه طارق ابن زیاد (رحمه الله) پدې هم پوه ؤ، چې طلیلطه یو قوي او متسحکم ښار دی او د اندلس پایتخت هم دی، نو که چېرته دی د موسی بن نصیر (رحمه الله) انتظار وکړي، نو کیدای شي چې د عیسویانو ځپل شوی طاقت بیا سره یو ځای شي، چې بیا به د طلیطلې فتحه ډېره ستونزمنه شي، نو طارق ابن زیاد (رحمه الله) د خپل امیر د رأیې په خلاف اجتهاد وکړ، په حقیقت کې طارق ابن زیاد (رحمه الله) موسی بن نصیر (رحمه الله) ته خبر ولېږه، چې لاره خلاصه ده، نو ستا څه رأیه ده؟ خو وړاندې له دې چې ځواب ورته راشي، روان شو او کله چې طلیطلې ته ورسېد، نو ورته معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه، چې د طلیطلې درې طرفونو یعنې شمال، غرب او شرق طرف ته لوی، لوی غرونه واقع دي، یوازې جنوب طرف ته یې لاره خلاصه وه، که څه هم لاره خلاصه وه، بیا هم یوه لویه کلا واقع وه، خو الله تعالی (جل جلاله) د مسلمانانو سره مرسته وکړه او د ښار او سیدونکو د ښار دروازې خلاصې کړې او جزیه یې په ځان ومنله، خو دومره لویه فتحه هم د موسی بن نصیر (رحمه الله) د خوشحالۍ سبب ونه ګرځید او طارق ابن زیاد (رحمه الله) ته یې یو لیک ورولیږه او په سخته لهجه یې هغه د نور پرمختګ څخه منع کړ.

دا کار یې ځکه وکړ، چې عیسویان د هغه وړوکی لښکر محاصره نه کړي موسی بن نصیر (رحمه الله) هم تیاری شروع کړ، تر څو طارق ابن زیاد (رحمه الله) ته کومک ورسوي او یو اتلس زریز فوځ یې تیار کړ، مسلمانان لکه څنګه چې په اندلس کې د جهاد څخه خبر شوي وو، د هر ځای څخه ډلې، ډلې د جهاد په نیت هلته روان شول، کوم دولس زره مخکینی فوځ چې د طارق ابن زیاد (رحمه الله) سره تللی ؤ، هغه د بربر قوم څخه وو او دغه نوی اتلس زره فوځ چې د موسی بن نصیر (رحمه الله) سره تللو ته اماده ؤ، اکثره یې عربان وو، چې له یمن، حجاز، شام، عراق او نورو منطقو څخه دلته راغلي وو.

موسی بن نصیر (رحمه الله) دغه اتلس زریز فوځ له ځان سره واخیست او د اندلس په طرف روان شو، کله چې اندلس ته داخل شو، نو پوه شو چې د اشبیلې خلکو چې د طارق ابن زیاد (رحمه الله) سره د جزیې په ورکړه تړون کړي ؤ، اوس د طارق ابن زیاد د تللو وروسته یې خپل تړون مات کړی او یو قوي لښکر یې تیار کړی ؤ، تر څو د طارق ابن زیاد (رحمه الله) پسې ولاړ شي، خو دغه لښکر د موسی بن نصیر(رحمه الله) سره مخ شو، موسی بن نصیر (رحمه الله) ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښيار، تجربه لرونکی، وينس او ليرې ليدونکی لارښود ؤ او هېڅکله په هغه شکل نه ؤ، لکه څنګه چې بعضې خلکو ويلي دي چې موسی بن نصير (رحمه الله) د کينې له مخې د طارق ابن زياد(رحمه الله) فتوحات ځنډول، تر څو پخپله اندلس فتحه کړي او همدارنګه دوی ويلي، چې طارق ابن زياد (رحمه الله) يې ځنډولی و، تر څو پدې کار کې ورسره شريک شي.

خو په حقيقت کې داسې نه ده، څکه موسی بن نصير (رحمه الله) نه غوښتل چې مسلمانان چې تعداد يې کم ؤ، د چا د دسيسې او دوکې ښکار شي او په يو پردي ملک کې هلاک شي.

موسی بن نصير (رحمه الله) اشبيله محاصره کړه او دغه محاصره تر څو مياشتو پورې اوږده شوه، تر دې چې د اشبيلې اوسيدونکو د ښار دروازې خلاصې کړې او مسلمانانو ته تسليم شول.

موسی بن نصير (رحمه الله) هغه ځايونو ته چې طارق بن زياد (رحمه الله) تللی ؤ، ولاړ نه شو، بلکې د غرب طرف ته روان شو، چې دې طرف ته طارق بن زياد (رحمه الله) نه ؤ تللی او د دې لپاره په بله لاره روان شو، تر څو فتحه مکمله شي.

موسی بن نصير (رحمه الله) زياتې منطقې فتحه کړې، تر دې چې مارده ښار ته ورسېد او پدې منطقه کې هم د قوط د قوم زيات تعداد خلک راټول شوي ؤو، موسی بن نصير (رحمه الله) مارده محاصره کړه، دغه محاصره هم د څو مياشتو لپاره اوږده شوه او پدې ټوله موده کې طارق ابن زياد (رحمه الله) په طليطله کې ورته منتظر ؤ، تر دې چې د څو مياشتو د محاصرې څخه وروسته د رمضان د مياشتې په اخري ورځو کې او اختر ته نږدې د مارده خلکو د ښار دروازې خلاصې کړې او د جزيې په منلو سره يې مسلمانانو سره سوله وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسی بن نصیر (رحمه الله) د غربي اندلس لیري منطقو ته خپل خوی عبدالعزیز بن موسی لیږلی ؤ، چې اوس دغه منطقې د پرتګال په نامه یادېږي. عبدالعزیز بن موسی په ډېر کم وخت کې دغه ټولې منطقې فتحه کړې، چې د همدې فتحې او ویاړ له مخې د پرتګال فاتح عبدالعزیز بن موسی (رحمه الله) دی.

بعضو خلکو ویلي چې کله موسی بن نصیر (رحمه الله) د طارق ابن زیاد (رحمه الله) سره مخ شو، نو ډېر سخت ورته په غصه شو او بندي یې کړ او حتی هغه یې په قمچینو وواهه، خو دا خبره هم حقیقت نه لري او له حقیقت څخه لرې ده. دغه داستانونه د اروپایانو له روایتونو څخه بغیر په نورو ځایونو کې ندي راغلي او حقیقت دا دی چې موسی بن نصیر (رحمه الله) هغه ډېر معمولي شان سر زنشت کړ او بغیر له دې څخه د دغو دواړو اتلو سالارانو تر منځ لیدنه چې دوه کاله وروسته شوې وه، ډېره دوستانه لیدنه وه.

دغه دواړه سالاران د ۹۲ هـ کال د رمضان څخه د ۹۴ هـ کال تر ذي الحجې پورې یو د بل څخه لرې ؤ، ځکه چې د طارق ابن زیاد (رحمه الله) حملې یو کال په بر کې نیولی ؤ، تر څو طلیطلې ته ورسېد، کله چې دغه دواړه سالاران سره یو ځای شول، نو بیا یې د شمالي منطقو د فتحې لپاره اماده ګي ونیوله. کله چې د شمال طرف ته روان شول، نو د برشلونه ښار یې فتحه کړ (د برشلونه په باره کې مسلمانان له دې علاوه، نور هېڅ نه پوهېږي، چې هلته د فوټبال یو ټیم شته او پدې نه پوهېږي چې هلته مسلمانان په فاتحانه ډول ورداخل شوي دي او هلته یې د الله تعالی (جل جلاله) دین رسولی دی) د برشلونه څخه وروسته دوی د سرقسطه په لور ولاړل، چې یو لوی ښار دی او دا ښار یې هم فتحه کړ. له هغې وروسته د شمال منځنۍ برخې ته او شمال غرب خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ولاړل او همدارنګه موسی ابن نصیر (رحمه الله) یو لښکر د پیرینه د غرونو شا ته ولیږه، دغه لښکر چې د پیرینه د غرونو څخه تېر شو نو د اربونه ښار ته چې د سپیني بحیرې په غاړه پروت دی ورسېده.
موسی بن نصیر (رحمه الله) پدې کار سره په فرانسه کې د یو اسلامي خاورې بنسټ کېښود، چې د وخت په تېریدو سره پراخه شو، چې بیان به یې انشاء الله په راتلونکو درسونو کې راشي.
وروسته له هغې چې دغه لښکر د فرانسې جنوبي برخه فتحه کړه، موسی بن نصیر (رحمه الله) د خپل لښکر سره د شمال غربي اندلس تر اخري برخو پورې ورسېد، تر دې چې د ټول اندلس فتحه په ۹۵ هـ کال کې مکمله شوه، بغیر له یوې منطقې څخه چې هغه د شمال غربي اندلس یوه لرې سیمه وه، چې د صخره په نوم یادیده او دغه سیمه د بسکای په خلیج کې د اطلانتیک سمندر سره نږدې واقع وه، موسی بن نصیر (رحمه الله) صخره هم محاصره کړې وه او د هغې د فتحې عزم یې هم درلود، خو په ناڅاپي ډول د داسې پېښې سره مخ شو، چې د هغې توقع یې هېڅ نه لرله.
موسی بن نصیر (رحمه الله) ته د ولید بن عبدالملک لیک او د فتوحاتو دریدل:
پدې وخت کې له دمشق څخه د امیرالمؤمنین فرمان د موسی بن نصیر (رحمه الله) او طارق ابن زیاد (رحمه الله) په نامه راورسېد او له هغوی څخه یې غوښتي وو چې د فتحې پوره کول دې پرېږدي او دمشق ته دې راشي، پدې امر سره موسی بن نصیر (رحمه الله) ډېر خفه شو، خو مجبور ؤ چې د خلیفه دغه امر ومني، پدې ځای کې لازمه ده چې له موسی بن نصیر(رحمه الله) سره یو ځای تعجب وکړو، چې خلیفه ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې کار وکړ. خو د دې جواب د ولید بن عبدالملک سره ؤ. چې په لاندې ډول دي

۱. ولید ابن عبدالملک پدې اندیښنه کې ؤ، چې مسلمانانو د خپل ملک څخه دومره لرې په اروپا کې په دومره تېزۍ سره پرمختګ وکړ. هسې نه چې نصارا هغوی محاصره کړي او لکه څنګه چې مسلمانانو په هره اندازه هلته پرمختګ کاوه او ځایونه یې نیول. نو قوت یې کمېده او له کومک څخه لرې کېدل، ولید نه غوښتل چې مسلمانان په دومره تیزۍ سره پرمختګ وکړي.

۲. ممکن ولید بن عبدالملک د موسی بن نصیر (رحمه الله) او طارق ابن زیاد (رحمه الله) د راګرځیدو څخه بغیر، هم د فتوحاتو درول غوښتل، ولې د دوی په راګرځیدو او دمشق ته په راتګ یې ځکه تأکید کاوه، چې ولید اوریدلي وو چې موسی بن نصیر (رحمه الله) غواړي چې د اندلس تر فتحې وروسته ټوله اروپا فتحه کړي، تر څو د غرب له لارې قسطنطینیه فتحه کړي، د امویانو لښکر څو ځلې کوښښ کړی ؤ. چې قسطنطینیه له ختیځ لوري فتحه کړي، خو نه وو توانیدلي، نو ځکه موسی بن نصیر (رحمه الله) د ټولې اروپا د فتحه کولو فکر کړی ؤ، تر څو د لویدیځ له لوري قسطنطینیه فتحه کړي، خو ولید بن عبدالملک پدې ویره کې ؤ، که مسلمانان د اروپا منځ ته داخل شي او له کومک څخه لرې شي، هسې نه هلاک شي، نو ځکه یې موسی بن نصیر (رحمه الله) او طارق ابن زیاد (رحمه الله) ته د فتوحاتو د درولو او د دوی د بېرته راګرځېدلو امر وکړ. دلته باید د موسی بن نصیر (رحمه الله) عالي همت وستایو. خصوصاً کله چې پدې وپوهېږو چې کوم وخت هغه دا فکر درلود! نو عمر یې پینځه اویا کاله ؤ. په دې عمر کې یې هم د الله تعالی (جل جلاله) په لاره کې جهاد کاوه او اندلس

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې فتحه کړ او همدارنګه د اندلس د فتحې څخه وروسته يې د اروپا د فتحې فکر کاوه، تر څو د لويديځ له لارې قسطنطينيه فتحه کړي، د غه د اوږد عمره شخص په پينځه اويا کلنۍ کې داسې فکر کاوه! د هغه دا رنګه فکر د اوسنيو پينځه اويا کلنو لپاره يو مثال دی، چې فکر کوي د کېناستلو عمر يې رارسېدلی دی او نور يې کارونه پای ته رسېدلي دي. ښکاره ده چې وظيفه او کار يې پای ته ندی رسېدلی او که نه نو راتلونکې نسل ته به څوک صحيح تعليم ورکوي؟ او هغوی به څوک د خپلو تجاربو څخه مستفيد کوي؟ او د هغوی کارونه به څوک اصلاح کوي؟

همدارنګه موسی بن نصير (رحمه الله) شمالي افريقا په داسې حال کې فتحه کړه، چې عمر يې د شپيتو کلونو څخه اوښتی ؤ، چې د غه عمر په اوسني وخت کې د تقاعد عمر دی، نو کله چې د وليد فرمان ورته ورسېد ډېر خفه شو، ځکه خفه شو، چې له جهاد نه منعې شو او کوم ارمان يې چې درلود، هغه پوره نه شو، خو مجبور ؤ چې د خليفه حکم ومني. هماغه ؤ چې طارق ابن زياد (رحمه الله) يې له ځان سره کړ، د دمشق په لور را وګرځېدل او په داسې حال کې دمشق ته را ورسېدل، چې وليد بن عبدالملک د مرګ په مرض اخته ؤ او درې ورځې وروسته د دوی د ورتګ څخه وفات شو او پر ځای يې سليمان بن عبدالملک خليفه وټاکل شو، چې دی هم د خپل ورور سره پدې خبره کې همنظره ؤ، چې موسی بن نصير دې په دمشق کې پاتې شي.

د موسی بن نصير د راتګ څخه يو کال وروسته سليمان بن عبدالملک په ۹۷ هـ کال کې حج ته تلونکی ؤ، نو موسی بن نصير (رحمه الله) لکه څنګه يې چې د لسو کالو څخه هم زياته موده په افريقا او اندلس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره کړې وه او پدې توله موده کې يو وار هم بېرته نه ؤ راغلی، نو ځکه يې د سليمان بن عبدالملک سره يو ځای د حج اراده وکړه.
په لاره کې موسی بن نصير (رحمه الله) دعا وکړه، چې ای الله جل جلاله، که زندگي راکوې! نو ما بېرته د جهاد خاورې ته ولېږه، تر څو هلته شهيد شم او که د جهاد څخه بغير په بل ځای کې مرگ راکوې، نو بيا د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مبارک ښار مدينه منوره کې را څخه روح واخله. د دې څخه وروسته حج ته ولاړ او کله چې له حج څخه بېرته را ورگرځيد، نو په مدينه منوره کې وفات شو او د صحابه کرامو (رضی الله عنهم) سره يو ځای دفن کړای شو
دا ؤ د صالحانو او الله تعالی (جل جلاله) سره د محبت لرونکو ارمان، چې خپله زياته زندگي يې په جهاد او د الله تعالی (جل جلاله) په لاره کې تېره کړې وه. زړونه يې د الله تعالی (جل جلاله) د محبت سره تړلي وو او د الله تعالی (جل جلاله) څخه يې د خپلې خاتمې سوال وکړ، چې قبول شو، مدينه منوره کې وفات شو او هملته دفن شو.
خو د ده د لارې ملگری طارق ابن زياد (رحمه الله) چې د اندلس څخه يو ځای د ده سره راغلي ؤ. د هغه په باره کې هېڅوک معلومات نه لري، يعنې کله چې هغه دمشق ته راغلی. بيا د هغه په باره کې هېڅ معلومات نشته، چې ايا هغه بېرته اندلس ته ولاړ او که په دمشق کې يې باقي ژوند تېر کړ؟ خو ځينې راويات شته چې ډېر صحيح ندي او وايي چې په ۱۰۲ هـ = ۷۲۱ م يعنې د اندلس څخه تر راتگ پينځه يا شپږ کاله وروسته وفات شو، خو معلومه نده چې په دمشق کې وفات شو او که په کوم بل ځای کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صخره:**

کله چې مسلمانان د اندلس د فتحې څخه وروسته د فرانسې غرب ته ورسېدل، نو موسی بن نصیر (رحمه الله) او طارق بن زیاد (رحمه الله) د خلیفه په امر بېرته راوګرځېدل، خو یوه ډېره کوچنۍ منطقه د اندلس په شمال لویدیځ کې د مسلمانانو د فتحې څخه پاتې وه او مسلمانان بې خطر ته متوجه نه شول، چې یوه ورځ به داسې راشي، چې د نصاراوو د مملکت سرچینه به له همدغه ځایه پیل شي او مسلمانان به په اندلس کې له سقوط سره مخ کړي، دغه منطقه د صخره په نوم یادیدله، چې مسلمانانو هغه نه وه فتحه کړې او په هغې کې د نصاراوو یوه لویه ډله اوسیدله. زیاتره مؤرخین پدې فکر دي، که موسی بن نصیر (رحمه الله) او یا طارق بن زیاد (رحمه الله) په هغه ځای کې پاتې وای، نو دغه سیمه بې همداسې نه پرېښودله، کولای شو ووایو چې یو ډېر وړوکی او ساده امر د وخت په تېریدو سره ډېر لوی مصیبتونه منځ ته راوړي.

نو مسلمانانو ته لازمه ده، چې خپل ټول کارونه په قوي عزم سره تر سره کړي.

**د فتحې د دورې پای (۹۵ هـ = ۷۱۴ م):**

د مشق ته د موسی بن نصیر (رحمه الله) او طارق بن زیاد (رحمه الله) تر تللو وروسته، د اندلس د تاریخ هغه مهمه دوره چې په هغې کې اسلامي حکومت په اندلس کې قائم شوی ؤ او په تاریخ کې د فتحې د دورې په نوم یاده شوېده؛ پای ته ورسېدله. د اندلس تاریخ د ملک نظام له حیثه په څو دورو ویشل شوی دی، چې یوه دوره د فتحې دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده او دغه دوره په ۹۲ هـ = ۷۱۱ م کال شروع شوه او په ۹۵ هـ = ۷۱۴ کال کې ختمه شوه، يعنې د فتحې دوره تقريباً درې نيم کاله وه.

او دا له يوې عسکري معجزې څخه کم نده، چې مسلمانانو د ټولو جغرافيايي مشکلاتو سره،سره دغه خاوره په درې نيمو کلونو کې فتحه کړه. دا رنګې عسکري معجزه د اسلامي تاريخ څخه پرته، بل کوم تاريخ کې نه ليدل کېږي، د دغې دورې څخه وروسته، نوې دوره شروع کېږي، چې د واليانو د دورې په نوم شهرت لري، دغه دوره د موسى بن نصير (رحمه الله) او طارق بن زياد (رحمه الله) د ببرته تګ څخه شروع کېږي او ۴۲ کاله ادامه کوي، يعنې د ۹۲ هـ څخه شروع او تر ۱۳۸ هـ پورې دوام کوي.

د واليانو معنا دا ده، چې يو والي به د اندلس امور په خپل لاس کې واخيستل او هغه به بيا د مسلمانانو د خليفه متابعت کاوه، چې پدې زمانه کې د مسلمانانو اولنى خليفه سليمان بن عبدالمک ؤ، له هغه وروسته عمر بن عبدالعزيز (رحمه الله) خليفه شو، بيا يزيد بن عبدالملک، بيا هشام بن عبدالملک او په همدې ډول د امويانو د دورې تر اخره پورې؛ دغې دورې ادامه پيدا کړه.

لومړى والي په اندلس کې عبدالعزيز بن موسى بن نصير (رحمه الله) دى، چې د سليمان بن عبدالمک په امر باندې مقرر شوى و.

عبدالعزيز بن موسى هم د جهاد په لاره کې د خپل پلار موسى بن نصير (رحمه الله) په شان ؤ، لکه څنګه يې چې پلار د هغه په اړه ويلي دي (صواما قواما ) په سختۍ سره بې روژه نيوله، تهجد به يې کول او د الله جل جلاله د لارې مجاهد ؤ.

د واليانو دوره ډېره عجيبه دوره وه، څکه چې د ۴۲ کلونو په موده کې ۲۲ واليان قدرت ته ورسېدل، يعنې هر والي د دوه يا درې کلونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات حکومت ندی کړی او دا څکه چې د دې واليانو څخه زيات يې د فرانسې په جنګونو کې شهيدان شوي دي او د دغې دورې په دوهمه برخه کې، زيات واليان د شورشونو په اساس لرې شوي دي.
سبحان الله! د دغې دورې اوله برخه د دوهمې برخې سره ډېر تفاوت لري. کولای شو د واليانو دوره د ادارې او حکومت دارۍ له کبله په دوه برخو ووېشو. اوله دوره چې د جهاد او فتوحاتو دوره وه، له ۹۲ هـ کال څخه يې تر ۱۲۳ هـ کال پورې دوام وکړ، خو دوهمه دوره چې ډېره ضعيفه او د دسيسو دوره وه، د ۱۲۳ هـ کال څخه تر ۱۳۸ هـ کال پورې، يعنې ۱۵ کاله يې دوام وکړ.
د ټولو واليانو ذکر دلته نه شو کولای، د نمونې په توګه به د څو مشهورو واليانو يادونه وکړو:
د واليانو د دورې اولې برخې ځينې صفات درلودل، لکه په اندلس کې د اسلام خپرېدل او خلکو ته د اسلام تعليم ورکول.
کله چې د اندلس خلکو وليدل چې اسلام يو کامل او شامل دين دی او د انسانانو د ژوند ټول مسايل تنظيموي، لکه په دې دين کې يې واضحه او ښکاره عقيده پيدا کړه، عبادات يې پکې په ښايسته شکل پيدا کړل، د سياست حکومت، تجارت، زراعت او معاملاتو لارښوونې يې پکې پيدا کړې، د دغه دين په حاکمانو او مشرانو کې يې تواضع پيدا کړه، همدارنګه د والدينو، اولادونو، ورونو، ګاونډيانو، خپلوانو، دوستانو او حتی دښمنانو سره د کړنلارې او سلوک اصول پکې هم ټاکل شوي وو. بنديانو سره د رويې اصول پکې وو، بلکې هر هغه څه سره، چې هغو ورسره اشنا يې درلوده، اسلام يې په اړه اصول درودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په خپل پخواني دين کې يې ډېر نا اشنا مفاهيم درلودل. چې دوی ته د فهم ور نه وو او حاکم به چې څرنګه غوښتل. دوی ته به يې قوانين وضعه کول. نو ځکه دوی د اسلام په مبارک دين کې ډلې ډلې داخل شول او د اندلس د فتحې څخه لږه موده پس، د اندلس زياتره اوسيدونکي د اندلس اصلي اوسيدونکي وو او عرب او بربر يکې اقليتونه وو، خو حکومت يکې بيا هم د همدوی ؤ او د اندلس اوسيدونکي هم د اسلام عساکر شول او همغوی د اسلام د راوړلو څخه وروسته فرانسې ته د فتوحاتو لپاره ولاړل. عربو او بربريانو د اندلس د اصلي اوسيدونکو سره ودونه وکړل او نوی نسل يې رامنځ ته کړ، چې دغه نوی نسل د مؤلدينو په نوم مشهور شو.

مسلمانانو په اندلس کې طبقې لغوه کړې. يعنې کله چې د اسلام مبارک دين راغی. نو د حاکم او محکوم ترمنځ يې مساوات رامنځ ته کړل. که چېرته به قاضي پر چا ناحقه حکم کاوه. نو د هغه په مقابل کې به دريده. همدارنګه مسلمانانو د خلکو د عقيدو ازادي ساتلې وه او دهغوی کليساګانې يې پرېښې وې، که چېرته به نصارا د کليسا په خرڅولو موافق شول، نو مسلمانانو به په مناسب قيمت هغه ترې اخيستله او په هغه ځای به يې جومات جوړاوه او که به يې د خرڅولو څخه انکار وکړ. نو هغه به يې پرېښودله او د هغې د ورانولو قصد به يې نه کاوه. مسلمانانو مدنيت او ابادۍ ته هم زياته توجه وکړه او زيات پلونه او نور ځايونه يې جوړ کړل. چې له جملې څخه يې يو د قرطبې پول دی، دغه پول په هغه وخت کې د اروپا د عجيبو پلونو له جملې څخه ؤ.

د وسلو او کښتيو جوړولو لوی مرکزونه يې هم جوړ کړل او اسلامي قوت ته يې زياتوالی ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هسپانويانو هم په هر کار کې د مسلمانانو تقليد شروع کړ، د فاتحينو ژبه چې عربي وه، هغوی زده کوله، حتی يهودو او نصاراوو چې د هسپانيې اوسيدونکي وو، د عربي ژبې په زده کولو وياړ کاوه.
سبحان الله! شکست خوړلی قوم هميش د فاتح قوم تقليد کوي، لکه څنګه چې په اوس وخت کې په ځينو تعليمي ادارو کې اساسي ژبه انګليسي ده، مسلمانان د انګليسي ژبې په يادولو باندې فخر کوي، په غربي تمدن او پرمختګ باندې عاشقان دي او هغه ژبه چې الله تعالی (جل جلاله) د قرانکريم په واسطه هغې ته شرف ورکړی او د جنت ژبه ده، هغه يې ترک کړېده او انګليسي ژبې ته يې کش ورکړی.
مسلمانانو په هغه زمانه کې قرطبه خپل پايتخت وټاکه، په اول کې د طليطلې ښار د اندلس پايتخت ؤ، خو پدې خاطر چې طليطله په شمال کې د فرانسې او صخرې سره نږدې وه او د پايتخت لپاره مناسب ځای نه ؤ، نو ځکه مسلمانانو قرطبه خپل پايتخت وټاکه، چې دغه ښار د اندلس په جنوب کې واقع دی، تر څو د کومک غوښتلو لپاره المغرب ته نږدې وي.
د واليانو د دورې په اوله برخه کې، کوم شی چې ډېر مهم و، هغه په فرانسه کې جهاد ؤ، په فرانسه کې جهاد د مسلمانانو په تاريخ کې زياتې خطاګانې درلودې.
دلته د بعضو هغو واليانو څخه يادونه کوو، چې په فرانسه کې د جهاد مخکښان وو.
سمح بن مالک الخولاني يو د هغو واليانو څخه دی، چې په فرانسه کې يې زيات جهاد کړی دی، سمح بن مالک د عمر بن عبدالعزيز (رحمه الله) په وخت کې د اندلس والي ؤ، دغه شخص چې کله د اندلس والي شو، نو فرانسې ته ولاړ، په فرانسه کې يو ښار د اربونه په نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې مسلمانانو د موسی بن نصیر (رحمه الله) په وخت کې د سرېې په اساس فتحه کړې ؤ، خو سمح بن مالک (رحمه الله) ټوله جنوبي فرانسه فتحه کړه او د یوې لويې ګذرګاه اساس يې کیښود، چې د سپتمانیا د مقطع په نوم یادیدله. چې اوس هغه مقطع د رویرا (Rviera) د ساحل په نوم یادېږي، چې د نړۍ زیات مسلمانان يې کتلو ته ورځي او د سیاحت له نظره د نړۍ له مشهورو ځايونو څخه شمېرل کېږي. په پخوا وختونو کې مسلمانان دغه ځای ته په فاتحان ډول ورننوتلي وو او هلته يې د الله تعالی (جل جلاله) قانون حاکم کړی ؤ.

سمح ابن مالک (رحمه الله) د ۱۰۲ هـ کال د عرفې په ورځ شهید شو او د هغه څخه وروسته زیات والیان تېر شول، چې د نومونو له یادولو يې تېرېږو، د عمبسه بن صهیب (رحمه الله) یادونه کوو، چې ډېر متقي او پرهیزګاوه سړی ؤ، طبعاً ډېر خلک به هغه نه پېژني، خو هغه یو حقیقي مجاهد شخصیت تېر شوی دی او د ۱۰۳ هـ څخه تر ۱۰۷ هـ کال پورې په اندلس کې حاکم ؤ او د جهاد په کولو سره د سانس تر ښار پورې چې د پاریس د ښار څخه ۳۰ کیلو متره لرې دی؛ ورسېده. یعنې عمبسه بن صهیب (رحمه الله) د فرانسې تقریباً اویا فیصده خاوره د مسلمانانو تر کنټرول لاندې راوستې وه، وروسته له دې عمبسه بن صهیب (رحمه الله) هم شهید شو، ده څخه وروسته د اندلس په ټولو امورو کې تغیر راغی، د عمبسه بن صهیب (رحمه الله) څخه وروسته هم په اندلس کې زیات والیان تېر شول، تر دې چې الحیسم الکلابي قدرت ته ورسېد، الحیسم الکلابي د تېرو والیانو برعکس ډېر متعصب سړی ؤ، په قوم عرب و او د ده په وخت کې د عربو او بربریانو تر منځ اختلافات شروع شول، خو له دې څخه وروسته الله تعالی (جل جلاله) عبدالرحمن الغافقي (رحمه الله) قدرت ته ورساوه او دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص یو ځل بیا د مسلمانانو له منځ څخه بې اتفاقي او قومي تعصبات لرې کړل، کله چې د دغو مشکلاتو په حل کولو بریالی شو، نو فوج یې له ځان سره واخیست او د فرانسې په لور روان شو، تر څو له نوي سره فتوحات شروع کړي او دی د فتوحاتو په لړ کې داسې ځای ته ورسېد، چې هلته د ده څخه پخوا مسلمانان نه وو رسېدلي، یو په بل پسې یې ښارونه فتحه کړل، د ارل ښار له فتحه کولو وورسته یې دبودو ښار فتحه کړ، دغه ښار اوس هم شته، وروسته له دې یې د تنوشه ښار او بیا یې د تورانتا ښار فتحه کړ، تر دې چې د پواتي ښار ته ورسېدل، چې دغه ښار د پاریس له ښار څخه تقریباً سل کیلو متره لیرې د لوید یځ طرف ته واقع دی او د قرطبي ښار څخه تقریباً زر کیلو متره فاصله لري.

په پواتي کې د بلاط په نوم یوه منطقه وه، چې عسکري کیمپ ؤ، بلاط په اندلسي ژبه کې ماڼۍ ته وایي، په دغه ځای کې یوه پخوانۍ تشه ماڼۍ وه، چې عسکر پکې اوسیدل.

عبدالرحمن الغافقي د خپلو عسکرو په تنظیم شروع وکړه، تر څو د نصاراوو د مقابلې لپاره ځان تیار کړي، د عبدالرحمن الغافقي، په فرانسه باندې، دغه حمله، لوی ترینه حمله وه، ځکه چې پدې حمله کې د مسلمانانو د فوج تعداد پنځوس زرو ته رسېده، خو د عبدالرحمن الغافقي په لښکر کې دغه وخت یو خطرناک مشکل رامنځته شو او هغه دا چې مسلمانانو د اندلس څخه د پواتي تر ښار پورې، ډېر ښارونه فتحه کړي وو او زیات غنیمتونه یې تر لاسه کړي ؤ، نو پدې وخت کې مسلمانان د غنیمتونو عاشقان شول او په دې فکر کې شول، چې باید بېرته وګرځو، تر څو دغه مالونه خپل وطن ته ورسوو، چې فرانسویان یې راڅخه بېرته ونه نیسي، لیکن عبدالرحمن الغافقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(رحمه الله) خلک راجمع کړل او ورته یې وویل: مونږ دلته د غنیمتونو راټولو لپاره نه یو راغلي، بلکې د دې لپاره راغلي یوو، چې د الله جل جلاله دین خلکو ته ورسوو او خلک د بنده د عبادت څخه د الله تعالی عبادت ته راوبولو.

پدې ډول یې لښکر د جهاد او شهادت لپاره اماده کړ او بیا د خپل لښکر سره د پواتې په لوري روان شو.

کله چې پواتې ته ورسېدل، نو په لښکر کې نوي مشکلات راپیدا شول او هغه دا چې کوم تعصبات چې په اندلس کې د عربو او بربریانو تر منځ موجود ؤ او د عبدالرحمن الغافقي (رحمه الله) په واسطه له منځه تللي وو، یو ځل بیا راتازه شول او دا پدې خاطر رامنځته شوې وو، چې د غنایمو څخه باید څوک څه شی واخلي، عربو به ویل چې مونږ عرب یوو، باید زمونږ حصه زیاته وي او بربریانو به ویل چې مونږ بربریان یوو او دا هېواد مونږ فتحه کړی دی، د همدې ویاړ له مخې زمونږ حصه باید زیاته وي، دوی دا هیره کړه، چې د اسلام په مقابل کې قومیت کوم اهمیت نه لري، خو په دوی کې دغه مشکل پیدا شو.

همدارنګه د غنیمتونو مینه او د هغو د لاسه وتلو ویره هم ورسره پیدا شوه او د دې په څنګ کې مسلمانانو په خپل زیاتوالي باندې اعتماد وکړ، ځکه چې دغه وخت د مسلمانانو تعداد پنځوس زره جنګیالیو ته رسېده، چې د اندلس په تاریخ کې یې سابقه نه درلودله.

نو هغوی خپل لښکر ته مغرور شول او فکر یې کاوه چې دوی نه شي مغلوبیدای، نو د حنین ورځ له نوي سره را تازه شوه او سره د دې چې د مسلمانانو سرلښکر ډېر تقوی داره، پرهیزګاره او مجاهد شخصیت ؤ، خو په لښکر کې یې د ماتې عوامل رانښکاره شوې وو، لکه د غنیمتونو سره مینه، قومي تعصبات او همدارنګه په خپل زیاتوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې اعتماد کول، خو هر کله چې د مسلمانانو تعداد زيات شوی او په الله جل جلالهُ باندې د توکل کولو پر ځای يې، په خپل زياتوالي اعتماد او باور کړی، نو الله جل جلالهُ له ماتې سره مخ کړي دي.

د نصاراوو لښکر د پاريس څخه د چارل مارتل په مشرۍ باندې راروان شوی ؤ، چې د لښکر تعداد يې څلور سوه زره جنګياليو ته رسېده، يعنې د مسلمانانو د لښکر څخه د دوی تعداد اته چنده زيات ؤ او د دې سره، سره مسلمانان د خپل پايتخت قرطبې څخه هم ډېر ليرې وو.

دغه جنګ په پواتې کې شوی دی، چې د پاريس سره نږدې دی، جنګ لس ورځې دوام وکړ، دا د ۱۱۴ هـ کال د رمضان مياشت وه، د جنګ په اولنيو وختونو کې، سره له دې چې د نصاراوو فوځ ډېر ؤ، خو غلبه د مسلمانانو وه، خو نصاراوو چې کله د مسلمانانو په غنيمتونو باندې، چې د مسلمانانو د فوځ شاته واقع وو، حمله وکړه، مسلمانان د غنيمتونو په فکر کې شول، نو ځکه يې لښکر خور، وور شو او په دغه جنګ کې چې د بلاط الشهداء يا پواتې د جنګ په نامه ياديده، ماتې وخوړه.

دغه جنګ ته بلاط الشهداء ځکه وايي چې بلاط يې په اندلسي ژبه کې مانۍ ته ويلو او هلته يوه مانۍ وه.

او شهداء هماغو شهيدانو ته وايي، چې په دې جنګ کې شهيدان شوي وو. په دغه جنګ کې چې څومره مسلمانان شهيدان شوي دي، د هغې تعداد په اسلامي تاريخ کې ندی راغلی، ليکن د اروپايانو په رواياتو کې د ډېرو مبالغو څخه کار اخيستل شوی دی، حتی هغوی وايي چې په دغه جنګ کې درې سوه زره مسلمانان قتل شوي دي، په داسې حال کې چې په دغه جنګ کې د مسلمانانو ټول تعداد پنځوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



زره تنه ؤ؛ خو هغوی کوښښ کوي، چې د مسلمانانو خساره او زیان زیات وښيي.
که چېرته فرانسویانو په دغه جنګ کې ماتې خوړلې وای، نو ټوله اروپا فتحه کېدله او د اکسفورډ په پوهنتون کې به د قران کریم تدریس کېده.
مسلمانانو د بلاط الشهداء په جنګ کې تر ماتې خوړلو وروسته په شاتګ وکړ، خو سره د دغه شاتګ هم لکه څومره چې نصارا فکر کوي، دغه شکست دومره لوی نه ؤ، ځکه چې د نصاراوو لښکرو مسلمانان تر اندلس پورې تعقیب نه کړل، بلکې یواځې د غنیمتونو په اخیستلو او د هغو مسلمانانو په قتل چې په جنګ کې قتل شوي وو اکتفاء وکړه. مسلمانانو په دغه جنګ کې ځکه ماته وخوړه، چې کوم مال دوی د فرانسې او اندلس په فتحو کې تر لاسه کړی ؤ، په هغې مغرور شوي وو. لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: قسم په الله تعالی ! چې زه پرتاسو د فقر څخه ویره نه لرم، بلکې له دې څخه ویره لرم، چې د دنیا دروازې به ستاسو پر مخ خلاصې، شي، لکه څنګه چې ستاسو څخه په مخکینیو باندې د دنیا دروازې خلاصې شوې وې، نو تاسو به د هغې په لاس ته راوړلو کې هڅې وکړئ، لکه څنګه چې ستاسو څخه مخکینیو د هغې په لاس ته راوړلو کې هڅې کړې دي او دغه رقابت او هڅې به تاسو هلاک کړي؛ لکه څنګه یې چې ستاسو څخه مخکې هلاک کړي وو.
سبحان الله ! د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کلام ته وګورئ ! او فکر وکړئ، ځکه د الله جل جلاله قانون دی چې څوک خاص د دنیا هڅې کوي، نو د دنیا محبت هغوی هلاکوي، په همدې قسم ددنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازې به د مسلمانانو پر مخ خلاصې شي او دوی به د هغې په لاس ته راوړلو کې هڅې وکړي، نو دوی به هم هلاک شي.

لکه څنګه چې د بلاط الشهداء په جنګ کې مسلمانانو د غنیمتونو سره مینه پیدا کړه او هم د دوی تر منځ قبیلوي او قومي تعصبونه راپیدا شول، نو د عربو او بربریانو تعصب فرانسویانو هم درک کړی ؤ، ځکه یې هغوی ته شکست ورکړ، د فرانسویانو کتابونو دغه پېښې ژوندۍ ساتلې وې، هماغه وو چې فرانسویان څو پیړۍ وروسته د الجزایر هېواد ته داخل شول او دغه هېواد ۱۳۰ کاله یعنې د ۱۸۳۰ م څخه تر ۱۹۷۰ م کال پورې د فرانسویانو په لاس کې ؤ، چې وروسته بیا د ازادۍ تحریکونه پکې راپیدا شول، نو فرانسویانو د دې لپاره چې دغه حرکتونه وځپي، اولنی کار یې دا وکړ چې هلته یې د عربانو او بربریانو ترمنځ قبیلوي تعصبات راپیدا کړل.

بربریانو ته به یې ویل چې تاسو اري یعنې اروپايي نژاد سره نږدې والی لرئ او عربانو سره ستاسو نږدې والی نشته.

لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه، بربریانو له اروپایانو سره ډېر مشابهت درلود، ځکه چې بربریانو زېړ ویښتان او شنې سترګې درلودلې، خو د اسلام په مبارک دین کې نژاد قبیله او رنګ کوم اهمیت نه لري، یوازې تقوا اهمیت لري.

فرانسویانو د دې لپاره چې بربریان هم له عربانو او هم له اسلام څخه لیرې کړي، هغوی ته یې د فرانسوي ژبې تعلیم شروع کړ او د عربي ژبې زده کړه یې پکې منع کړه، خو د دې سره، سره هغوی ونه شول کولای، چې بربریان د اسلام د مبارک دین څخه د عیسایت طرف ته واړوي، اګر که د دوی ژبو هم تغیر وکړ، خو بیا هم په اسلام باقي پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسویانو پدې لړ کې د هغوی لپاره د امازیغي په نوم یوه خاصه ژبه رامنځته کړه، ځکه کومو بربریانو چې په الجزایر کې ژوند کاوه، هغه د امازیغ قبایل وو او هغوی خپله مخصوصه ژبه درلوده او د الجزایر ۱۵ فیصده نفوس یې تشکیلاوه، نو فرانسویانو د امازیغي ژبې تعلیم دوی ته شروع کړ، حتی په فرانسه کې یې په کال ۱۹۶۷م کې د امازیغي ژبې لیکنه پیل کړه او د هغې کتابت او لیکنه یې لاتیني ژبې ته بدله کړه، ځکه امازیغي ژبه ویل کیدله، خو کتابت او لیکنه یې نه درلودله، نو ځکه هغوی دغه ژبه په لاتیني الفاظو ولیکله او بربر ځوانان یې فرانسې ته جلب کړل، تر څو امازیغي ژبه یاده کړي، همدانګه دوی د عربي ژبې د کلیماتو په لیرې کولو شروع وکړه، یعنې د بربري ژبې څخه یې د عربي ژبې د کلماتو د حذفولو شروع وکړه، تر څو چې په ۱۹۸۸ م کال کې، یعنې ډېر کم کلونه مخکې فرانسویانو د بربریانو لپاره یوه نړیواله اکاډمي جوړه کړه او هغوی ته یې د دغې ژبې د یادولو تعلیم شروع کړ. فرانسویانو دغه ټول کوښښونه د دې لپاره شروع کړي دي، تر څو د عربانو او بربریانو ترمنځ فاصله پیدا کړي او هغوی په خپلو منځونو کې سره وجنګوي، ځکه فرانسویانو ته د بلاط الشهداء په جنګ کې د بربریانو او عربانو تر منځ د تعصب نښې او اثار معلوم شوي وو او په دې پوهېدل چې د دغو دوو قومونو تر منځ، دغه یووالی د اسلام د مبارک دین په واسطه رامنځ ته شوی دی.

خو که وګورو چې له یو طرفه فرانسویانو دا کوښښ کاوه، چې په الجزایر کې یې د عربي ژبې څخه پرته، نورې ژبې راپیدا کړې، خو له بل طرفه په ۱۹۹۹ م کال کې د فرانسې د وزیرانو رئیس شیراک ته وړاندیز شوی ؤ، چې په فرانسه کې محلي ژبو ته هم اجازه ورکړي، نو هغه ورته په جواب کې وویل: ایا تاسو غواړئ چې فرانسه دې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالکان په خير شي، يعنې فرانسه هم د بالکان په خير د قومي تعصباتو په اساس سره بېلوئ؟ نو پدې اساس يې دغه پيشنهاد رد کړ، پداسې حال کې چې همدوی په الجزاير کې د امازيغي ژبې د رواجولو په اساس په مسلمانانو کې تفرقه بازي پيدا کوله

يعنې دا کار د فرانسې لپاره حرام ؤ، خو د الجزاير لپاره حلال ؤ، چې د يوې ژبې څخه دې زياتې ژبې پکې دود وي. طبعاً دغه مشکل د الجزاير د حکومت مشکل هم دی، ولې دومره ويلای شو، چې سره د دې چې فرانسويانو د دغو خلکو د بې دينه کولو لپاره هر څومره کوښښونه وکړل، خو دغه خلک، يعنې بربريان تراوسه پورې په خپل دين باندې کلک ولاړ دي.

د بلاط الشهداء جګړه د مسلمانانو لپاره يو لوی درس دی، ځکه چې په دغه جنګ کې مسلمانان د قومي تعصباتو او دنيا سره د مينې له وجې هلاک شول، نو د دې څخه بايد نور مسلمانان عبرت واخلي او په خپلو منځونو کې هيڅ ډول تعصب ونه کړي، همدارنګه له دنيا سره بايد دومره مينه ونه کړي، چې خپل ټول مسؤليتونه يې له ياده ووځي او صرف د دنيا او دولت مينه وکړي.

اقول قولی هذا واستغفرالله لی ولک وجزاکم الله خيرا کثيرا

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**